# بانک The Bank

میاشتنی | Monthly | ماهنامه

۲۱۹ گڼه - ۱۴۴۷ ربیع الثانی - ۱۴۰۴ تله




## د فارکس د ممنوعیت شرعي حکم

۳ مخ

**From Crisis to Confidence: The Strategic Logic of Gold Reserves**

P 31

**آموزش؛ کلید به دست آوردن شغل، رشد و یادگیری مادام العمر است**

صفحه ۱۵

## بودجه سازی:

**یعنـــی برنامـــه ریـــزی بـــرای مصـــارف مطابـــق عوایـــد بـــا در نظرداشت اصل صرفه جویی و پس انداز.**






**د امتیاز خاوند: د افغانستان بانک**

**کتنپلاوی: فدا محمد فیضان، احمد جواد سداد او محمد ادریس رونق**

**سرلیکوال: شفیق الله بارز**



- د افغانستان بانک د عالي شورا غونډه جوړه شوه ۱
- هیئت عالی رتبه د افغانستان بانک از نماینده گی های این بانک در چهار ولایت زون جنوب غرب دیدار بعمل آورد ۲
- د فارکس د ممنوعیت شرعي حکم ۳
- پنج روند بزرگ که مسیر رشد نظام مالی غیربانکی را رقم می‌زنند ۵
- د افغانستان ژیو پولیتیکي موقعیت او د هېواد پر اقتصادي ودې یې اغېزې ۹
- اقتصادي خبرونه ۱۳
- آموزش؛ کلید به دست آوردن شغل، رشد و یادگیری مادام العمر است ۱۵
- له پوهې تر عمله؛ د ناورین د خطر لپاره د حل لارو زیاتول ۱۸
- تولید برق و فرصت‌های سرمایه‌گذاری ۲۰
- د بانکونو پېریدونکو ته د غوره خدمتونو په وړاندې کولو کې د معلوماتي ټکنالوژۍ رول ۲۲
- From Crisis to Confidence: The Strategic Logic of Gold Reserves ۳۱



**مسئول مدیر: انور الله حیات**

**خبریالان: سید خالد خالقیار او زاهد الله احمدي**

**ډیزاین: خالد احمد فیضي**

**فوټوژورنالیست: زیرک ملیا**

**د وېش مسئول: نصرت الله احمدزی**

د چاپ شمېر: ۱۲۰۰ ټوکه

کال: اوولسم

پته: د افغانستان بانک

د ثبت ګڼه: ۶۵۸

ټلیفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

بریښنالیک: magazine@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af

۲۱۹



د مجلې د مقالو او انځورونو کارول د سرچينې په ذکر کولو سره جواز لري.

استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.


Da Afghanistan Bank-Youtube twitter.com/AFGCentralbank www.facebook.com/AFGCentralbank




# د افغانستان بانک د عالي شورا غونډه جوړه شوه

د افغانستان بانک د عالي شورا غونډه د افغانستان بانک د رئیس ښاغلي نور احمد آغا په مشرۍ چې په ورته وخت کې د دې بانک د عالي شورا مشر هم دی جوړه شوه.

د غونډې په پیل کې ښاغلي نور احمد آغا د پولي سیاستونو د اغېزناک تطبیق، د بانکوالۍ سکتور د عمومي وضعیت، په هېواد کې د اسلامي بانکوالۍ د پراختیا د هڅو، د صرافیو او پولي خدمتونو د فعالیتونو د میکانیزه کولو، او مالي خدمتونو ته د خلکو د آسان لاسرسي په اړه مفصلې څرګندونې وکړې.

نوموړي څرګنده کړه چې په تېر یو کال کې افغانۍ د ډالر پر وړاندې خپل ارزښت ثابت ساتلی او د سیمې او نړۍ د ډېرو هېوادونو د اسعارو په پرتله د ښه کېدو په حال کې ده. هغه زیاته کړه چې د بانکونو د شتمنیو، مدیریت او نغدینګۍ وضعیت په وروستیو میاشتو کې د پام وړ ښه شوی دی.

وروسته د افغانستان بانک اړوندو سکتوري آمریتونو د ۱۴۰۳ لمریز کال د وروستیو شپږو میاشتو د اجراآتو راپورونه وړاندې کړل. په دغو راپورونو کې د پولي سیاستونو د تطبیق، د بانکي سکتور د پیاوړتیا، د اسلامي بانکوالۍ د ودې، د اداري چارو او د اداینو د سیستم د پرمختګ په اړه تفصیلي معلومات شامل وو. همدارنګه، د ۱۴۰۴ لمریز کال د پلانونو او ستراتیژیکو لومړیتوبونو په اړه هم بحث او سلا مشورې وشوې.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک عالي شورا د دغه بانک د پرېکړې کولو تر ټولو لوړه مرجع ده، چې په کال کې څلور ځله غونډې کوي او د بانک د اساسي تګلارو او ستراتیژیو د رهبرۍ مسؤلیت پر غاړه لري. باید وویل شي چې په دې غونډه کې د افغانستان بانک د عالي شورا غړو په آنلاین او حضوري ډول ګډون کړی وو.



# هیئت عالی رتبه د افغانستان بانک از نماینده گی های این بانک در چهار ولایت زون جنوب غرب دیدار بعمل آورد

هیئتی تحت ریاست محترم صدیق‌الله خالد معاون اول د افغانستان بانک به زون جنوب غرب سفر کرد و از فعالیت‌های زون، نمایندگی‌های تحت اثر، نمایندگی های بانک‌های تجارتی و صرافی ها، دیدار نمودند.

هیئت اعزامی د افغانستان بانک در جریان سفر خویش از بخش‌های مختلف این زون (خزانه‌ها، بخش های اداری و اسناد) و همچنان از فعالیت‌های بانک‌های تجارتی و صرافی‌ها، نظارت نمود.

معاون اول د افغانستان بانک طی این دیدار، توصیه‌ها و هدایات لازم را جهت عرضه خدمات بانکی بهتر، سریع‌تر و شفاف‌تر، به مسولین مربوطه صادر نمود.

همچنان، هیئت مذکور از ولایت‌های کندهار، هلمند، ارزگان و زابل که تحت اثر این زون فعالیت می نمایند، بازدیدهای مفصل انجام داده و طی آن به مسئولین در مورد مشکلات و نیازمندی‌ها صحبت کرده و جهت رفع آن، رهنمودهای مشخص ارائه گردید.

در بخش دیگری از این سفر، هیئت د افغانستان بانک پس از بازدید از نمایندگی سپین بولدک، با مسئولین مربوطه در مورد ترویج پول افغانی در مناطق سرحدی و جلوگیری از استفاده اسعار در معاملات روزانه، گفتگو نمود و از آنان خواست تا برای استفاده از افغانی در معاملات تجارتی مطابق لوایح و هدایات متحدالمال د افغانستان بانک، تدابیر لازم اتخاذ نمایند.

همچنان، به مجاهدین پیرامون زیان‌های قاچاق اسعار معلومات داده شده و از آنان خواسته شد که در بخش جلوگیری از قاچاق در سرحدات، با د افغانستان بانک و ادارات مربوطه همکاری لازم نمایند.

قابل یادآوری است که معاون اول د افغانستان بانک را در این سفر، محترم مولوی فضل‌الله متوکل آمر زون مرکز، محترم دکتور رقیب‌الله ابراهیمی معاون اداره ناظر کُل و نمایندگانی از آمریت های نظارت بانکی و غیربانکی همراهی می نمودند.

# د فارکس د ممنوعیت شرعي حکم

په معاصر عصر کې د اسعارو نړیوالې معاملې، چې د "فارکس" په نامه یادېږي، د ځینو وګړو پام ځان ته راګرځولی دی. خو د فارکس شرعي حیثیت د فقهي اصولو او شرعي لارښوونو له مخې د ژور بحث وړ دی. په دې مقاله کې د فارکس د کاروبار پر بېلابېلو طریقو بحث ترسره کېږي، او د اسلامي فقهې د اصولو پر بنسټ پکې د فارکس د عدم جواز دلایل څېړل کېږي. د قمار، بیع المعدوم، بیع قبل القبض، او بیع الکالی بالکالي مفاهیمو ته په استناد سره، دا مقاله دا روښانوي چې ولې فارکس په اوسني شکل کې د شرعي اصولو خلاف ګڼل کېږي. همدارنګه، د قرآن کریم آیتونه او د حنفي فقهې معتبرې حوالې یې د اثبات لپاره وړاندې شوي دي.

د فارکس د کاروبار بېلابېلې لارې چارې شته چې اکثره یې د شرعي دلایلو د موجودیت په سبب ناجائزې دي. اصلا په فارکس کې شخص په خپله بازار ته د ننوتلو اهل نه وي بلکې هغه په یاد شرکت کې د یو مقدار پیسو په بدل کې خپل ځان ته یو حساب پرانیزي او د هغه حساب له لارې بازار ته ننوځي. د فارکس په بازار کې شرکتونه له نورو آسانتیاوو سره سره لوی مقدار پیسې حساب لرونکي ته د ضمانت په توګه هم ورکوي. حساب لرونکی بیا د همدې ضمانت په توګه د ورکړل شویو پیسو پر بنسټ له خلکو سره پېر او پلور او معاملې ترسره کوي او شرکت پر یادو پیسو باندې خپل اجرت اخلي چې دا یا پر قرض باندې سود ګڼل کیږي چې حرام دی او یا هم پر کفالت باندې اجرت ګڼل کیږي چې هغه هم ناجائز دی او د فارکس سره د انټرنیټ له لارې په کاروبار کې پېرل او پلورل فقط د کاغذ تر حده وي پر پېرل شویو توکو نه قبضه کېږي او نه یې هم قبضه موخه وي بلکې فقط ګټه او تاوان برابرول یې مقصد وي چې دا د قمار یو صورت دی او ناجائز دی. نو له همدې امله د فارکس په اړه عمومي حکم دا دی چې د اسعارو د پېرلو او پلورلو لپاره د درو شرطونو وجود ضروری دی.

اسعار باید یوازې په حساب کې و نه ښودل شي بلکې راکړه



ورکړه يې بايد حقيقي وي. همداراز، د اسعارو پلورونکی بايد حقيقتا د هغو مالک وي او پر اسعارو يې قبضه هم کړې وي. که د بېلابېلو هېوادونو د اسعارو مبادله وي نو د عقد په غونډه کې بايد يو اړخ پر اسعارو حقيقي يا حکمي قبضه کړې وي. همدا ډول، کله چې حقيقي راکړه ورکړه نه وي شوې نو عموما دا بيع الدين بالدين دی (د پور بيه په پور باندې) چې دا هم يوه ناجائزه چاره ده.

په راتلونکې کې د پلور په صورت کې د مستقبل پر نيټه پېرل او پلورل جائز نه دي. د فارکس په معاملو کې په عمومي توګه پر سکرين باندې فقط اعداد او شميرې پورته او کښته کيږي او ګټه او تاوان شمېرل کيږي چې په فزيکي توګه پر هيڅ څيز باندې قبضه نه وي. دا هم ناجائز دي ځکه چې دا د قمار بڼه ده. همدا راز په فارکس کې اکثره خلک يوازې د اسعارو د لوړيدو له لارې د ګټې ترلاسه کولو لپاره پېر او پلور کوي. د هغوی موخه پر اسعارو فزيکي يا حقيقي قبضه نه وي نو ياد اشخاص همدا اسعار پرته له قبضې پلوري چې دا بيع قبل القبض يعنې له قبض څخه مخکې پلورل ګڼل کيږي او بيع قبل القبض يوه ناجائزه چاره ده.

خلاصه دا چې د فارکس په کاروبار کې د قمار، بيع المعدوم (د غير موجود توکي بيع)، بيع قبل القبض (له قبضې څخه مخکې د اسعارو پلور) او بيع الکالی بالکالي (د قرض پلورل د قرض په بدل کې) په څېر ناجايزې چارې رانغاړي نو له دې امله فارکس ناجائز دی او په دې کې پانګونه هم نا جائزه ده.

والله تعالی اعلم بالصواب

مفتي رشيد احمد انقيادي

---

والحجة على ماقلنا:

اخذليکونه:

1. يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡخَمۡرُ وَٱلۡمَيۡسِرُ وَٱلۡأَنصَابُ وَٱلۡأَزۡلَٰمُ رِجۡسٞ مِّنۡ عَمَلِ ٱلشَّيۡطَٰنِ فَٱجۡتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ 90 [المائدة: 90]
2. وشرط المعقود عليه ستة: كونه موجودا مالا متقوما مملوكا في نفسه، وكون الملك للبائع فيما يبيعه لنفسه، وكونه مقدور التسليم فلم ينعقد بيع المعدوم وما له خطر العدم. [حاشية ابن عابدين = رد المحتار ط الحلبي 4/ 505]
3. ثم التسليم يكون بالتخلية على وجه يتمكن من القبض بلا مانعولا حائل.وشرط في الاجناس شرطا ثالثا وهو أن يقول: خليت بينك وبين المبيع، فلو لم يقله أو كان بعيدا لم يصر قابضا والناس عنه غافلون، فإنهم يشترون قرية ويقرون بالتسليم والقبض، وهو لا يصح به القبض على الصحيح وكذا الهبة والصدقة.. [الدر المختار شرح تنوير الأبصار وجامع البحار ص400]
4. ولأن هذا العقد مبادلة الثمن بالثمن، والثمن يثبت بالعقد دينا في الذمة، والدين بالدين حرام في الشرع لنهي النبي صلى الله عليه وسلم عن بيع الكالئ بالكالئ فما يحصل به التعيين، وهو القبض لا بد منه في هذا العقد،. [المبسوط للسرخسي 14/ 3]
5. الفقه البيوع ج ٧٦٣١٢ تجارة العملات عن طريق الفوريكس.



# پنج روند بزرگ که مسیر رشد نظام مالی غیربانکی را رقم میزنند

**(این مقاله از ویبلاگ انگلیسی صندوق بین المللی پول ترجمه شده است)**

امروزه نیمی از دارایی‌های مالی جهان در اختیار و مدیریت شرکت‌های قرار دارد که در تعریف سنتی، »بانک« محسوب نمی‌شوند و تحت مقررات و نظارت بانکی قرار ندارند.

بحران مالی جهانی در سال ۲۰۰۸ نظام مالی جهان را به انجماد کشاند؛ بانک‌ها اعطای قرضه را متوقف کردند، خانواده‌ها مصارف خود را کاهش دادند و شرکت‌ها کارگران را اخراج کردند. این وضعیت، روزهای پرهراس و بی‌ثباتی را رقم زد و برای صنعت خدمات مالی، یکی از دشوارترین و بحرانی‌ترین مقاطع تاریخ محسوب می‌شد.

امروزه چهرهٔ نظام مالی به‌شدت تغییر کرده است. اکنون، انواع مختلف سرمایه‌گذاران و شرکت‌ها به کسب‌وکارها، مردم و دولت‌ها قرضه و نقدینگی فراهم می‌کنند. بیش از یک میلیارد نفر، به لطف قرضه‌دهندگان مبتنی بر تکنالوژی، توانسته‌اند به قرضه دسترسی پیدا کنند. خانواده‌ها نیز گزینه‌های متنوع‌تری برای خریداری، سرمایه‌گذاری و برنامه‌های تقاعد در اختیار دارند. بازارهای اکویتی (سرمایه سهام‌داران)، درآمد ثابت و مشتقات، همه در سال‌های اخیر رشد قابل توجهی را تجربه کرده‌اند.

اما این تغییرات توسط بانک‌ها بوجود نیامده است، بلکه این نهادهای مالی غیربانکی بودند که در این زمینه نقش برجسته‌ای ایفا کرده‌اند و براساس تازه‌ترین آمار سهم خود را در بازار قرضه و خدمات مالی جهان از ۴۳ درصد در زمان بحران مالی ۲۰۰۸ به نزدیک به ۵۰ درصد در سال ۲۰۲۳ رسانده‌اند. این دگرگونی نقطه عطف مهمی در ساختار نظام مالی جهانی



به‌شمار می‌رود، زیرا اکنون نیمی از خدمات مالی جهان توسط شرکت‌های ارائه می‌شود که بانک محسوب نمی‌شوند و خارج از چارچوب مقررات سنتی بانکی فعالیت می‌کنند.

نهادهای مالی غیربانکی شامل انواع مختلفی از شرکت‌ها هستند که تعریف آن‌ها باتوجه به منابع و نظام‌های مالی متفاوت است. این شرکت‌ها معمولاً در حوزه‌های قرضه‌دهی، تجارت و سرمایه‌گذاری فعالیت دارند، اما برخلاف بانک‌ها سپرده‌های مردم را نمی‌پذیرند و حسابی نزد بانک مرکزی ندارند. به بیان دیگر، آن‌ها از حمایت‌های چون بیمه سپرده و دسترسی به نقدینگی که بانک‌ها در عوض پایبندی به مقررات سخت‌گیرانه نظارتی دریافت می‌کنند، محروم‌اند.

**روندهای بزرگ**

با توجه به اندازه و اهمیت نهادهای مالی غیربانکی، بررسی روندهای کلیدی که رشد و نفوذ آن‌ها را در نظام مالی جهانی تسریع می‌کند، اهمیت فراوان دارد.

- **دولت‌ها اکنون قرضه‌دهندگان جدیدی در اختیار دارند** که به افزایش نقدینگی کمک کرده و نرخ‌ها را در سطح پایین نگه می‌دارند: نهادهای مالی غیربانکی با خرید اوراق بهادار مانند اوراق خزانه امریکا، نقش مهمی در افزایش نقدینگی بازار و بهبود کارایی آن ایفا می‌کنند. این امر می‌تواند فشار ناشی از سود قرضه دولتی را که در نهایت بر دوش مالیه‌دهندگان قرار می‌گیرد کاهش دهد. در ایالات متحده، شرکت‌های معاملاتی بزرگ مانند سیتادل سکیوریتیز و جان استریت کپیتال با مودل‌های کسب‌وکار مبتنی بر تکنالوژی، از جمله معاملات الگوریتمی و با فرکانس بالا، این روند را شتاب بخشیده‌اند.
- **کسب‌وکارهای متوسط اکنون به منابع مالی گسترده‌تری دسترسی دارند**، و این امر موجب تقویت فعالیت‌های اقتصادی، ایجاد فرصت‌های شغلی و افزایش تاب‌آوری مالی شده است. صندوق‌های قرضه‌دهی خصوصی به شرکت های قرضه می‌دهند که برای بانک‌های بزرگ بیش از حد پرخطر به‌شمار می‌روند یا آن‌قدر کوچک هستند که توانایی صدور اوراق قرضه را ندارند. منابع مالی این صندوق‌ها معمولاً از سوی نهادهای غیربانکی مانند شرکت‌های بیمه، صندوق‌های تقاعد، صندوق‌های سرمایه‌گذاری دولتی و بنیادهای خیریه تأمین می‌شود. این نهادها وابستگی کمتری به قرضه و سرمایه کوتاه‌مدت دارند و منابع مالی‌شان نسبت به بانک‌ها باثبات‌تر و درازمدت‌تر است. به همین دلیل، در دوره‌های بحران مالی مجبور به بازپس‌گیری سریع سرمایه‌های خود نیستند، امری که موجب می‌شود نظام مالی در برابر فشارها و نوسانات، مقاوم‌تر و پایدارتر باقی بماند.
- **امروزه افراد و کسب‌وکارهای کوچک به انواع مختلفی از قرضه دسترسی دارند** — از قرضه‌های درازمدت برای خرید وسایط نقلیه گرفته تا برنامه‌های «اکنون خریداری کن، بعداً بپرداز» و حتی قرضه‌های کوچک از طریق مبایل در کشورهای مانند کینیا. شرکت‌های تکنالوژی‌محور با استفاده از منابع نوین معلومات برای ارزیابی قرضه و خودکارسازی روند ارائه خدمات، مصارف قرضه‌دهی را به‌طور چشمگیری کاهش داده‌اند. در نتیجه، امکان آن فراهم شده است که مؤسسات مالی بتوانند قرضه‌های کوچک‌تر را به تعداد بیشتری از متقاضیان ارائه کنند. در کشورهای در حال توسعه، این تکنالوژی‌ها نه‌تنها دسترسی به پرداخت‌ها از طریق مبایل را گسترش داده‌اند، بلکه راه را برای تنوع‌بخشی بیشتر ارائه خدمات مالی نیز هموار ساخته‌اند.
- **امروزه سرمایه‌گذاران، چه کوچک و چه بزرگ**، به دامنه متنوع‌تری از فرصت‌های سرمایه‌گذاری دسترسی دارند که به آن‌ها امکان می‌دهد خطرات سرمایه‌گذاری را بهتر مدیریت کنند. صندوق‌های سرمایه‌گذاری دسترسی

سرمایه‌گذاران فردی به بازارهای سرمایه را آسان‌تر ساخته‌اند. با کاهش بازده(مفاد) دارایی‌های کم‌خطر، سهم صندوق‌های شاخص از مجموع دارایی‌های تحت مدیریت به‌سرعت افزایش یافته است؛ برای نمونه، در ایالات متحده از ۱۹ درصد در سال ۲۰۱۰ به ۴۸ درصد در سال ۲۰۲۳ رسیده است.

افزون بر این، نهادهای مالی غیربانکی دارایی‌های جدیدی مانند املاک تجاری، فلزات گران‌بها و سرمایه‌گذاری‌های جایگزین را در اختیار گروه وسیع‌تری از سرمایه‌گذاران قرار داده‌اند. در نتیجه، تنوع بیشتر دارایی‌ها به سرمایه‌گذاران کمک می‌کند تا خطرات خود را بهتر مدیریت کنند، هرچند دارایی‌های پرنوسان همچنان خطرات خاص و بالقوه را به همراه دارند.

- **علاوه بر مزایای تنوع‌بخشی**، یکی از ویژگی‌های برجسته سرمایه‌گذاری غیرفعال، نقش تثبیت‌کننده آن در بازارهای مالی است. برخی از صندوق‌های غیرفعال برای حفظ بیلانس سهامی که به سرمایه‌گذاران وعده داده‌اند، به‌صورت منظم و قابل پیش‌بینی عمل می‌کنند؛ به این معنا که وقتی قیمت سهام کاهش می‌یابد، آن را خریداری می‌کنند و در زمان افزایش قیمت، اقدام به فروش می‌نمایند. این رفتار تکرارشونده می‌تواند نوسانات شدید بازار را تعدیل کند. برای نمونه، زمانی که ارزش سهام یک شرکت به حدی افزایش یابد که وارد شاخص معیار بازار شود یا در اثر کاهش ارزش از آن حذف گردد، صندوق‌های شاخص متناسب با تغییرات یا تحولات عمل می‌کنند. با گسترش و رشد این صندوق‌ها، این الگوی منظم خرید و فروش به عاملی تبدیل شده است که به ثبات بیشتر در بازارهای مالی کمک می‌کند.

این روندها نشان می‌دهد که نوآوری‌های نهادهای مالی غیربانکی، هرچند مزایای چشمگیری برای رشد اقتصادی، دسترسی مالی و تنوع سرمایه‌گذاری به همراه داشته‌اند، اما رشد سریع و گستردهٔ آن‌ها بدون خطر نیست.

**خطرهای احتمالی**

یکی از نگرانی‌های مهم، سناریوی کلاسیک «هجوم به (غیر) بانک» است. صندوق‌های سرمایه‌گذاری باز و صندوق‌های بازار پول، درست مانند بانک‌ها، در دارایی‌های بلندمدت سرمایه‌گذاری می‌کنند، اما در عین حال به مشتریان وعده می‌دهند که هر زمان بخواهند می‌توانند وجوه خود را برداشت کنند. برای نمونه، در آغاز بحران نقدینگی ناشی از شیوع ویروس کرونا در سال ۲۰۲۰، برخی از این صندوق‌ها با کمبود شدید نقدینگی روبه‌رو شدند و تنها با حمایت بانک‌های مرکزی، از جمله فدرال رزرو (بانک مرکزی امریکا)، توانستند به فعالیت خود ادامه دهند. هرچند دولت‌ها در این روند متحمل ضرر مالی مستقیم نشدند، اما عملاً خطرات نهادهای غیربانکی را بر عهده گرفتند.

**سناریوی «هشدار مفاد و سرایت خطرات»:** قرض گرفتن با مفاد به سرمایه‌گذاران این امکان را می‌دهد که با استفاده از قرضه، سرمایه‌گذاری‌های بزرگ‌تری انجام دهند و در نتیجه مفاد خود را افزایش دهند. با این حال، همین شیوه موجب می‌شود خطرات ضرر نیز چند برابر گردد. برخی از صندوق‌های پوشش خطر و نهادهای مدیریت سرمایه خانوادگی - یعنی مدیران ثروت که بر دارایی یک یا چند خانواده ثروتمند تمرکز دارند - مبالغ هنگفتی را با وثیقه اندک قرض می‌گیرند تا در سرمایه‌گذاری‌های پرنوسان مانند بازار سهام یا اوراق قرضه پرخطر وارد شوند.

در شرایط تنش یا بحران مالی، مؤسساتی که این نهادهای غیربانکی از آن‌ها قرضه می‌گیرند، ممکن است به‌طور ناگهانی شرایط قرضه‌دهی را تغییر دهند و از وثیقه‌های کم به وثیقه‌های بسیار بالا روی آورند. این تغییر سریع و غیرمنتظره، فشار شدیدی بر بازارها وارد کرده و می‌تواند خطرات سیستماتیک را

افزایش دهد.

اگر این سرمایه‌گذاری‌های پرخطر به شکست منجر شوند، نهادهای غیربانکی ممکن است ورشکسته شوند و این امر باعث ضرر برای نهادهای قرضه‌دهنده و کاهش نقدینگی در بازار شده و فشارهای گسترده‌ای ایجاد می‌کند. نمونه چنین سرایت بحران زمانی رخ داد که دفتر خانوادگی شرکت سرمایه آرچیگوس در سال ۲۰۲۱ فروپاشید و بانک‌های بزرگ جهانی را با خسارات قابل توجه مواجه ساخت.

**حفاظت از مردم**

- **جمع‌آوری معلومات بیشتر و بهتر:** این نهادها به‌طور گسترده از بانک‌ها و دیگر بخش‌های نظام مالی قرضع می‌گیرند، اما الزامات افشا و گزارش‌دهی آن‌ها بسیار محدود است. در نتیجه، نه فعالان بازار و نه ناظران مالی دید جامع و کاملی از خطرات ثبات کلان مالی ناشی از فعالیت‌های آن‌ها دارند. از آنجا که مالیه‌دهندگان اغلب در زمان بحران مجبور به تأمین ضرر می‌شوند، شایسته است که پیش از بحران از خطرات که این نهادها می‌پذیرند، مطلع باشند. وقتی معلومات معاملات به دلایل رقابتی نمی‌تواند در اختیار همه قرار گیرد، دسترسی ناظران به این معلومات و شریک‌سازی آن بین کشورها ضروری است. در این زمینه، گروه کاری ویژه معلومات نهادهای غیربانکی در حال تلاش برای افزایش شفافیت و بهبود نظارت بین‌المللی است.
- **استفاده از معلومات برای بهبود تحلیل خطرات:** ناظران مالی می‌توانند با استفاده بهتر از معلومات موجود، شبکه‌های ارتباطی میان بانک‌ها و نهادهای غیربانکی و همچنین ارتباطات داخلی میان خود نهادهای غیربانکی را به‌دقت شناسایی کنند. به‌کارگیری مودل‌ها و تکنالوژی‌های نوین امکان درک دقیق‌تر و پیش‌بینی بهتر خطرات مالی جهانی را فراهم می‌کند. از نمونه‌های برجسته در این زمینه می‌توان به سناریوی اکتشافی سیستمی بانک انگلستان که برای نخستین بار در سال ۲۰۲۳ اجرا شد و همچنین تحقیقات اخیر صندوق بین‌المللی پول درباره خطرات ثبات مالی سیستم‌محور در منطقه یورو اشاره کرد.
- **استفاده از تحلیل خطر برای تقویت نظارت:** با درک دقیق‌تر و جامع‌تر خطرات، ناظران ملی و بین‌المللی قادر خواهند بود خطرات بالقوه را سریع‌تر شناسایی کنند و با اتخاذ اقدامات پیشگیرانه و مؤثر، نظام مالی جهانی را در برابر شوک‌ها و نوسانات شدید کمتر آسیب‌پذیر سازند.

**نتیجه‌گیری:**

نهادهای مالی غیربانکی گروهی متنوع و گسترده هستند. برای مدیریت مؤثر خطرات، نیاز است که فعالیت‌های آن‌ها بهتر درک و تحلیل شود و اطمینان حاصل گردد که پرخطرترین فعالیت‌ها تحت نظارت و مقررات مناسب قرار دارند. هدف از این اقدامات، کاهش خطرات احتمالی برای نظام مالی و فعالیت‌های اقتصادی است، در حالی که فضای کافی برای نوآوری و پویایی در ارائه خدمات مالی نیز حفظ می‌شود.

**نوسینده:** جی سورتی

ترجمه: سید آصف فکرت، عضو بورد ترجمه د افغانستان بانک

---

مآخذ:

1- Surti, J. (2025, September 29). Explainer: Five megatrends shaping the rise of nonbank finance. IMF Blog. https://
2- www.imf.org/en/Blogs/Articles/2025/09/29/explainer-five-megatrends-shaping-the-rise-of-nonbank-finance

# د افغانستان ژیو پولیتیکي موقعیت او د هېواد پر اقتصادي ودې یې اغېزې

افغانستان د منځنۍ آسیا، سویلي آسیا او منځني ختیځ تر منځ پروت دی، او له دغو سیمو څخه په اقتصادي، سیاسي، نظامي او کلتوري برخو کې اغېزمن دی او همدا لامل دی، چې زموږ هېواد تل د ژیو پولیتیکي بدلونونو قرباني شوی هم دی. د ژیو پولیتیک اصطلاح د بېلابېلو هېوادونو د بهرني سیاست د مسئلو د تشریح یا شننې لپاره کارول کېږي. په دې مقاله کې پر هغو عواملو بحث کیږي چې د هېواد د ژیو پولیتیکي موقعیت له امله زموږ پر اقتصاد اغېز کوي.

**ژیو پولیتیک څه ته وایي؟**

مخکې له دې چې د افغانستان او سیمې په ژیو پولیتیکي ارزښت او حالاتو بحث وکړو، غوره به وي چې لمړی د ژیو پولیتیک اصطلاح واضح کړو: ژیو پولیتیک له دوو یوناني تاریخي کلمو "گیو" په معنی د ځمکې او "پولیتیکوس" په معنی د سیاست څخه جوړه ده. ډېری د ژیو پولیتیک تعریفونه په لمړنۍ برخې ټینگار لري پداسې حال کې چې نور پر دویمې برخې ټینگار کوي.

د ژیو پولیتیک اصطلاح په لومړي ځل په ۱۸۹۹ کال کې د



سویډني سیاسي علومو کارپوه روډالف کجیلین له خوا وکارول شوه. وروسته بیا دغه اصطلاح عامه او د نړیوال سیاست او سیاسي علومو یوه مهمه برخه وګرځېدله.

برنارډ کوهېن چې پر ژیو پولیتیک یې ګڼ شمېر کتابونه کښلي، د ژیو پولیتیک په تړاو وایي: ژیو پولیتیک د جغرافیوي لیدلورو او چاپېریالونو، او د سیاسي پروسو د اړیکو شننې ته وایي. له جغرافیوي چاپېریالونو څخه موخه جغرافیوي عنصرونه، نمونې او څو بُعد لرونکې سیمې دي؛ او له سیاسي پروسو څخه موخه هغه ځواکونه دي، چې په نړېواله او سیمه‌ییزه کچه نړیوال چلندونه تر اغېزې لاندې راولي. او دواړه یو بل اغېزمنوي، چې ژیو پولیتیک د دغو اړیکو تاثیرات په نښه کوي .

## ژیو پولیتیکي عوامل

اوس مهال د نړۍ هېوادونه هڅه کوي چې له ژیو پولیتیکي عواملو څخه په ګټې اخیستنې د خپلو ملي ګټو په چوکاټ کې مناسبې تګلارې غوره کړي او پر نورو هېوادونو خپل نفوذ زیات کړي. ژیو پولیتیک ډېر عوامل لري چې هېوادونه ترې ګټه پورته کوي، دلته به د ځینو عواملو څخه لنډه یادونه وکړو: ژیو پولیتیک او نړیوالتوب، ژیو پولیتیک او نړیواله حکومتولي، ژیو پولیتیک او نرم ځواک، ژیو پولیتیکي اقتصاد ، ژیو پولیتیک او دیموګرافي، ژیو پولیتیک او منابع، ژیو پولیتیک او ټکنالوژي، ژیو پولیتیک او مذهب، ژیو پولیتیک او نړیوال امنیت، ژیو پولیتیک او نړیوال قوانین. دلته یوازې هغه عوامل چې زموږ پر هېواد اغېزې پرې باسي او یا یې هم له ګټو برخمن کېدای شي واضح کیږي.

## نرم ژیو پولیتیکي ځواک

دولتونه کولای شي نور دولتونه راجلب کړي چې خپل سیاسي ارزښتونه او کړنلارې چې دوی پخپله خوښه غوره کړي، سره شریکې کړي. د دولتونو موخه دا وي چې د دوی پر وړاندې راپورته شوي اعتراضونه په پام کې ونیسي او د اخلاقي توجیهاتو په وړاندې کولو سره خپل سیاست ته مشروعیت ورکړي. په سیاست، په ځانګړې ډول په ژیو پولیتیک کې ځواک یو له اړینو کټګوریو څخه شمېرل کېږي. سربېره پر دې، ځواک یوه طبیعي پدیده ده، چې پدې توګه کولای شي د سیاست او د اقتصاد ډګر نور لوبغاړي تر اغېزې لاندې راولي.

## ژیو پولیتیکي اقتصاد

یو له مهمو عواملو څخه چې د هیوادونو اړیکې اغیزمنوي او د دوی دفاعي ستراتیژیو ته وده ورکوي، ژیو پولیتیکي اقتصادي عوامل دي. اقتصاد د محدودو سرچینو د مدیریت علم دی، د همدې سرچینو پر سر سیالي ده چې ژیو پولیتیک او اقتصاد سره یوځای کوي. تولیدي عوامل لکه: کاري سرچینې، پانګه او ځمکه چې د وسایلو د برابرولو، د تولید او خدمتونو وړاندې کولو لپاره اړین دي، نو ځکه تل د اقتصادي شننو د پیل ټکی ژیو پولیتیک وي. نن سبا، د ژیو پولیتیک اقتصادي عواملو په کارولو سره یو هېواد خپلې ملي ګټې تامینولای شي، او حکومتونه هڅه کوي چې له خپل ژیو پولیتیکي موقعیت او سیاسي ځواک څخه په ګټه اخیستنې د نورو هیوادونو سره سیاسي او سوداګریزو اړیکو کې آسانتیاوې برابرې کړي او د هغو اقتصادي پلیټ فارمونو له لارې چې د دولتونو ګټې سره یوځای کوي، کولای شي له نورو هېوادونو سره د خپلو اختلافاتو او کړکیچونو په هوارولو کې پر هغوی برلاسي شي.

لکه څنګه چې په وروستیو پېړیو کې د پولنډ هېواد ژیو پولیتیکي موقعیت د دې هېواد پر اقتصادي پراختیا کې ځانګړی رول ولوباوه، همدارنګه له نورو هېوادونو په ځانګړې توګه له غربي هېوادونو سره د اقتصادي او سیاسي اړیکو په تنظیم سره یې اقتصادي پرمختیا او وده وکړه، خو د دویم نړیوال جنګ پر مهال د دې اړیکو له پرېکېدو سره سم یې د بازارونو او پراختیایي امکاناتو ته زیان ورسېد.

**ژيو پوليتيک او منابع**

په دې برخه کې ژيو پوليتيک د سياسي او اقتصادي موخو د ترلاسه کولو لپاره د سرچينو کارول پوښي. په سياسي موخو کې د هغو هيوادونو د حاکميت محدودول شامل دي چې سرچينې واردوي. د ژيو پوليتيک له پلوه، مهمې سرچينې هغه دي چې د هيوادونو په اقتصادي پرمختګ کې کليدي رول لوبوي. د انرژۍ سرچينې لکه تيل، ګاز، او د ډېرو سکاره او د ځمکې نادر فلزات (چې هيڅ بديل نلري)، او له نېکه مرغه افغانستان پدې برخه کې خورا بډايه دی. د انرژيو سرچينې د نورو انرژيو د توليد لپاره کارول کيدای شي.

**د افغانستان داتصال ستراتيژيکې سوداګريزې لارې:**

افغانستان د منځنۍ آسيا له لارې د شمال - سويل او ختيځ لويديزې آسيا د دهليزونو له لارې د سوداګرۍ آسانتياوې برابروي. د جغرافيوي ثقل د مرکز په توګه افغانستان د مرکزي آسيا د سيمه ييزې اقتصادي همکارۍ په پروګرام کې ځانګړی رول لوبولای شي، چې د سړکونو، انرژۍ او سوداګرۍ په برخه کې پانګونې ته زمينه برابروي. د مرکزي آسيا د سيمه ييزې اقتصادي همکارۍ د شپږو پېژندل شويو دهليزونو څخه، درې يې له افغانستان څخه تېرېږي. سړکونه او د اورګاډي پټلۍ افغانستان له بهرنۍ نړۍ سره نښلوي او کولای شي د آسيا څو بېلابېلې سيمې له يو بل سره وصل کړي. سربېره پر دې، دا سړکونه د افغانستان ولايتونه، ښارونه، ښارګوټي او کلي او بانډې هم سره نښلولای شي. د وریښمو لرغونې لار هم د سوداګرۍ له پاره يوه مهمه لار وه، چې د چين له مدنيت څخه پيل شوې د دغې زړې اقتصادي او ترانزيتي لارې، چې آن تر افريقا او اروپا پورې غځېدلې وه، ډېره برخه يې له افغانستان څخه تېرېدله. د لرغوني افغانستان په ځانګړي ډول د کوشاني امپراتورۍ پرمهال کابل، کندهار او بلخ هغه درې ستر مرکزونه وو، چې له هغو څخه به د وریښمو د لارې کاروانونه تېرېدل. په ټوله کې، د وریښمو لارې په اوږدو کې د پرتو هېوادونو په ټولنيز، فکري، عقيدوي او اقتصادي وده کې خورا مهم رول لوبولی دی؛ خو کله چې نړۍ پرمختګ وکړ او سمندري لارې او هوايي کرښې رامنځته شوې، نو بيا د وریښمو لرغونې لار له پامه وغورځېده او د تاريخ پاڼو ته وسپارل شوه، خو د چين هېواد د لويو اقتصادي طرحو څخه چې اوسمهال يې په لاره اچولې يوه يې د وریښمو لارې د بيا احيا طرحه ده. ددې لارې په جوړېدو سره به افغانستان اقتصادي وده وکړي، خپل کرنيز محصولات، لاسي صنايع، قيمتي ډبرې او داسې نور به د يادې لارې د لويو وچو بازارونو ته صادرکړي او له دې درکه به نه يوازې سوداګري او اقتصاد پرمختګ وکړي بلکې له سياسي پلوه به افغانستان په نړيواله کچه ځانګړې باور ترلاسه کړي.

اوسمهال افغانستان د انرژۍ د سترو دهليزونو لکه د ترکمنستان-افغانستان-پاکستان-هند (تاپي) د ګازو پايپ لاين او د منځنۍ آسيا-جنوبي آسيا (کاسا-۱۰۰۰) د برېښنا د لېږد پروژې په تقاطع کې ولاړ دی.

که چېرې د کاسا-۱۰۰۰ پروژې اقتصادي ارزښت ته وکتل شي نو نه يوازې دا چې د انرژۍ موقتې اړتياوې پوره کوي، بلکې په اوږد مهال کې سيمه ييزه او اقتصادي پراختيا هم پياوړې کولای شي.

**افغانستان د سويلي آسيا او تر هغې ورهاخوا سيمو دروازه:**

د چين د وريښمو نوې طرحه په عمده ډول درې مهمې برخې لري: لومړی؛ له چين څخه د وچې له لارې اروپا ته لار. دويم؛ د سمندر له لارې اروپا ته لار. دريیم؛ له بېلابېلو هېوادونو سره شپږ اقتصادي حوزې، چې يوه يې هم د پاکستان-چين اقتصادي حوزه ده. په دغې لويې اقتصادي پروژه کې تقريباً ٦٠ هېوادونه رانغاړل شوي او د اکانوميسټ مجلې د اټکل له مخې تر نامحدود وخت پورې به د دغه پروژې مجموعي پانګونه له ۴ څخه ۸ ټريليون ډالرو پورې ورسيږي. دا په سيمه‌ييزه کچه تر ټولو لوی اقتصادي بدلون دی. له همدې ځايه، د نړيوال

سیاست یو شمېر مفکرین د چینایانو دغه نوې پروژې د نوي نړیوال نظم سره هم تشبیه کوي.

د سویلي آسیا د دروازې په توګه، افغانستان د ګاونډیو هېوادونو لکه پاکستان، هند او ایران په څېر د 1.8 ملیارد څخه زیاتو خلکو بازار ته د لاسرسي زمینه برابروي. د ټرانسپورټي شبکو، لکه لویو لارو، ریل پټلیو او بندرونو د پراختیا له لارې د اتصال لوړول کولای شي د سیمه ییزې سوداګرۍ د مرکز په توګه د افغانستان ظرفیت لوړ کړي. سربېره پر دې، د سوداګریزو اړیکو ښه والی کولای شي د افغانستان د طبیعي زیرمو په صادرولو کې آسانتیا رامنځته کړي، لکه: د منرالونو، لیتیم او قیمتي ډبرو، چې دا په بنسټیزې اقتصادي پراختیا او په بهرنیو مرستو باندې د انحصار په کمولو کې له موږ سره مرسته کولای شي.

**ننګونې او فرصتونه:**

د خپل ستراتیژیک اهمیت سره سره، د افغانستان اقتصادي ظرفیت د پرله پسې ننګونو او سیاسي بې ثباتۍ له امله له خنډ سره مخ شوی دی. لسیزو جګړو د افغانستان بنسټیزه پراختیا اغېزمنه کړې او د بهرنۍ پانګونې مخه یې نیولې وه، او همدارنګه اوس له افغانستان سره د نړیوالو دوه مخي د سوداګرۍ لپاره د مناسب چاپیریال رامنځته کېدو مخه نیسي په افغانستان کې د امنیت غوره وضعیت او ثبات د پانګونې د راجلبولو او د اقتصادي ودې لپاره یو فرصت برابر کړی.

په پایله کې به ووایو چې: د افغانستان ژیو پولیتیک موقعیت د اقتصادي ودې لپاره ننګونې او فرصتونه دواړه لري. افغانستان د منځنۍ او جنوبي آسیا ترمنځ د یوې دروازې په توګه د خپل ستراتیژیک موقعیت په کارولو سره کولای شي د سیمه ییز اتصال او سوداګرۍ د یوې برخې په توګه راڅرګند شي او په پراخه سیمه کې د هر اړخیز پرمختګ او ثبات د ټینګښت لامل شي. په هرصورت، د دې لید درک کول د امنیتي اندیښنو د حل کولو، د حکومتوالۍ د لا ښه کولو، او د نړیوالو شریکانو د ملاتړ څخه د ګټې اخیستنې لپاره ګډو هڅو ته اړتیا لري ترڅو د افغانستان د نه کارول شوي اقتصادي ظرفیت ته لار پرانیستل شي. که چېرې له نړیوالو سره د افغانستان اړیکې تنظیم کړل شي لري نده چې د پورته یادو شویو سترو اقتصادي پروژو ترڅنګ به د افغانستان اقتصاد ډېره وده وکړي. همدارنګه ژیو پولیتیکي عوامل او پلیټ فارمونه کولای شي د هېوادونو ترمنځ ګډ ارزښتونه، همغږي او ښې اړیکې رامنځته او د سیمه ییزو همکاریو د پراختیا لامل شي او غوره فرصتونه رامنځته کړي. هېوادونه کولای شي د فعالې اقتصادي ډیپلوماسۍ په مدیریت کولو سره ځان ته فرصتونه برابر کړي، خو که چېرې له دې فرصتونو څخه ګټه پورته نشي، لېرې نده چې د هېوادونو په اړیکو، مناسباتو اوسیستمونو کې به ځنډ و خنډ رامنځته شي.

**لیکوال: نصیر احمد شرف، د افغانستان بانک د پولي سیاستونو، د نړیوالې پانګونې ارشد افیسر**

**سرچینې:**


1.الهامی، ع.، &شاملو، ر. (۲۰۲۱). تبیین عوامل ژئوپلیتیکی اقتصادی مؤثر بر راهبردهای دفاعی جمهوری اسلامی ایران در حوزه خلیج فارس .سیاست و روابط بینالملل، ٤ .76–51 ,(2)
https://doi.org/10.22080/jpir.2021.21005.1203

2.خلیلي، ا. ب. (۲۰۱۹). د سیمې ژیو پولیتیکي بدلونونه او پر افغانستان یې اغېزې (۲۰۱۴–۲۰۱۹ز) .د ستراتېژیکو او سیمهییزو څېړنو مرکز https://csrskabul.com/?p=5866 .

3.پویا، ښ. (۲۰۲۲). د ټاپي پروژه؛ اقتصادي ګټې او فرصتونه .د افغانستان بانک https://dab.gov.af/index.php/ps/د-ټاپي-پروژه؛-اقتصادي-ګټې-او-فرصتونه

4.Kovac, I. (2023). Definitions of geopolitics. Oxford Research Encyclopedia of International Studies. https://doi.org/10.1093/acrefore/9780190846626.013.823

5.Kardan, A. (2010, September 21). Review – Geopolitics of the World System. E-International Relations. https://www.e-ir.info/2010/09/21/review-geopolitics-of-the-world-system/

6. Kloczkowski, J. (Ed.). (2021). Geopolitics. Jesuit University Ignatianum in Krakow.
https://wydawnictwo.ignatianum.edu.pl/sites/wydawnictwo/files/publikacje_pdf/geopolityka_ang_net.pdf

7.Asian Development Bank. (n.d.). Afghanistan: Social safeguards assessment. https://www.adb.org/sites/default/files/linked-documents/44482-012-afg-ssa.pdf

8.شیراني، ف. و. (۲۰۲۳). د وربښمو لار او د افغانستان لپاره یې اقتصادي ګټې .د افغانستان د اقتصاد وزارت https://dpmea.gov.af/ps/د-وربښمو-لار-او-د-افغانستان-لپاره-یې-اقتصادي-ګټې

# اقتصادي خبرونه

**تېرو شپږو میاشتو کې د افغانستان او ایران ترمنځ د سوداګرۍ کچه څه باندې ۱.٦ میلیارد ډالرو ته رسېدلې**

کابل (پژواک، ۷ تله ۱۴۰۴): د صنعت او سوداګرۍ وزارت وايي چې د روان لمریز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د افغانستان او ایران ترمنځ د سوداګرۍ کچه یو میلیارد او ٦٢٦ میلیون امریکايي ډالرو ته رسېدلې ده. دغه وزارت نن (دوشنبه، د تلې ۷مه) په یوه خبرپاڼه کې ویلي چې د روان ۱۴۰۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ایران او افغانستان ترمنځ د سوداګرۍ کچه یو میلیارد او ٦٢٦ میلیون امریکايي ډالرو ته رسېدلې چې له دې ډلې ۱۳ میلیون ډالر یې صادرات او یو میلیارد او ٦١٣ میلیون ډالر یې واردات دي.سرچینې لیکلي چې ایران ته په صادراتي توکو کې سرب، پنبه، سره ممیز، غیرالکولي مشروبات، د سبزیجاتو تخمونه، بادام، کاني ډبرې، پروسس شوې شوکاټې او کنبته شامل دي.

سرچینې دغه‌راز زیاته کړې چې په وارداتي توکو کې ډیزل، پټرول، اوبلن ګاز، د موټرو پرزې، سمنټ، آهن‌چادر، کتان او هګۍ شامل دي.



**د افغانستان او سیمې اقتصاد د نسبي ښه والي په اړه د نړۍوال بانک راپور**

د نړیوال بانک یو تازه راپور ښيي چې د منځني ختیځ، شمالي افریقا، افغانستان او پاکستان اقتصاد په ورو خو مثبته وده کې دی. د راپور له مخې، د سیمې د اقتصادي ودې کچه په ۲۰۲۴ کال کې له ۲.۳ سلنې په ۲۰۲۵ کال کې ۲.۸ سلنې ته لوړه شوې او اټکل کیږي چې راتلونکی کال به ۳.۳ سلنې ته ورسیږي. د دغه نړیوال سازمان په وینا، د افغانستان په ګډون د سیمې هیوادونه یوازې هغه وخت اقتصادي ثبات تجربه کولای شي چې کاري فرصتونه زیات شي او له کاري ځواکه په بشپړه توګه ګټه واخیستل شي.

د نړیوال بانک د راپور په یوه برخه کې راغلي: «د منځني ختیځ، شمالي افریقا، افغانستان او پاکستان د ودې لرلید له نړیوالو بهیرونو سره سم، په ښه کېدو دی. خو جګړې، حساس حالت او بې‌ځایه کېدنې لاهم دوامداره ننګونې دي.» د اقتصادي چارو شنونکی نجیب الله صدیقي وايي: «که دولتي اداري د تېرو څلورو کلونو په څېر په ښه نظم، ترتیب او شفافیت سره خپلې چارې پر مخ یوسي، ان‌شاءالله موږ به لا زیات پرمختګ وکړو. دویم دا چې زموږ ټول هیوادوال، وزارتونه او دولتي اداري باید له کورني صنعت څخه ملاتړ وکړي.» د اقتصادي چارو شنونکی وايي، که څه هم په افغانستان کې د ودې شاخصونه په وروستیو کلونو کې په نسبي توګه ښه شوي، خو د افغانستان د اقتصادي پرمختګ او ځان بسیاینې لاره د پانګونې د زمینو برابرول او د خصوصي سکتور جدي ملاتړ دی. د اقتصادي چارو شنونکی عبدالنصیر رښتیا په دې باور دی: «که حکومت د خصوصي سکتور جدي ملاتړ وکړي، دا سکتور کولای شي د اقتصادي ودې او پرمختګ په برخه کې مهم رول ولوبوي، ځکه حکومت یوازې نشي کولای له ټولو ننګونو څخه ووځي او دا مهال د پالیسۍ جوړولو، امنیت تامین، د قوانینو جوړولو او د بازار څارنې په چارو بوخت دی.» د افغانستان د اسلامي امارت اقتصاد وزارت وايي، د اقتصادي پرمختګ په لاره کې له شته ننګونو سره سره، هېواد توانېدلی چې له شته فرصتونو په ګټې اخیستنې سره، سږ کال د پام وړ اقتصادي وده وکړي. د اقتصاد وزارت ویاند عبدالرحمن حبیب طلوع نیوز ته ویلي: «سږ کال،



سره له دې چې له اقتصادي محدودیتونو، د اسعارو شتمنیو کنګل کېدو، د نړیوالې ټولنې د پرمختیایي مرستو بندېدو، وچکالۍ او د افغان کډوالو له بېرته راستنېدو سره مخ وو، خو بیا هم، له نیکه مرغه، د اغېزناکو اقتصادي طرزالعملونو له مخې د اقتصادي پرمختګ شاهد یو.» که څه هم افغانستان په تېرو څلورو کلونو کې له اقتصادي او سیاسي بندیزونو سره مخ دی، خو د اقتصادي چارو د شنونکو پر باور، د کاسا-۱۰۰۰، ټاپي، د اوبو بندونو د جوړولو او ټرانزیټي لارو د پراختیا په څېر د مهمو پروژو بېرته پیلېدل د هېواد د اقتصادي ودې پر لور مثبت ګامونه ګڼل کېږي.

**د افغانستان سوداګریزه راکړه ورکړه د تېر کال پرتله ۳۰ سلنې لوړه شوې**

د صنعت او سوداګرۍ وزارت اعلان کړی چې د ۱۴۰۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د افغانستان سوداګریزې راکړې ورکړې څه باندې ٦ میلیارده او ۷۸۳ میلیونو ډالرو ته رسېدلې دي، چې د تېر کال د ورته مودې پرتله ۳۰ سلنه زیاتوالی ښيي. د دغو شمېرو له مخې، په دې موده کې د افغانستان صادرات ۷۴۸ میلیون ډالرو ته رسېدلي، چې د تېر کال د لومړیو شپږو میاشتو پرتله ۹ سلنه وده ښيي. د صنعت او سوداګرۍ وزارت وياند، آخندزاده عبدالسلام جواد په دې اړه داسې وايي: »په صادراتي محصولاتو کې اصلي محصولات، مميز، اینځر، مالوچ، زردالو، زعفران، پسته، انګور او نوشابې او نور کرنيز محصولات دي. چې چین، هند، پاکستان، متحده عربي امارات، قزاقستان او ترکمنستان او عراق ته صادرېږي.» د کرنې او مالدارۍ خونه په هېواد کې د لوړې کچې کرنيزو تولیداتو په تړاو وايي چې د افغانستان محصولات باید د نورو هیوادونو له معیارونو سره سم چمتو شي څو دا محصولات نه یوازې ګاونډیو هیوادونو، بلکې د نړۍ نورو هیوادونو ته هم صادر شي. د کرنې او مالدارۍ خونې د عامل پلاوي رییس، وسیم صافي و ویل: «افغاني کرنيز توکي چې څه لري هغه ارګانیک دي او نیمه ارګانیک دي. نړۍ اوس مهال ارګانیکو توکو ته اړتیا لري. یعنې هرڅه طبیعي دي، کیمیاوي پکې څه نه اضافه کيږي. خو زموږ په صادراتو کې معیارونه ډېر مهم دي چې باید کار پرې وشي.» د اقتصادي چارو شنونکی، احمد فردوس بهګزین هم وايي: «هر څومره چې موږ وکړای شو چې له ګاونډیو هېوادونو سره خپلې اقتصادي اړیکې زیاتې کړو، هماغومره به د خپل هېواد اقتصادي ګراف لا لوړ کړو. اړتیا ده چې په نړیوالو او ملي کنفرانسونو کې ګډون وکړو. د دولت او خصوصي سکتور ترمنځ غونډو کې فعال حضور ولرو.» د صنعت او سوداګرۍ وزارت د معلوماتو له مخې، په دې موده کې د افغانستان واردات څه باندې ٦ میلیارده او ۳۵ میلیونو ډالرو ته رسېدلي، چې د تېر کال پرتله ۲۱ سلنه زیاتوالی ښيي. د وارداتو د زیاتوالي ارزښت د تېر کال پرتله یو میلیارد او ۴۲ میلیون ډالره اټکل شوی دی.

**سرچینې:**

۱- پژواک، ۱۴۴۷ ربیع الثانی ۶ (۱۴۰۴/۰۷/۰۷) ۲- طلوع نیوز، ۱۴۴۷ ربیع الثانی ۱۵ (۱۴۰۴/۰۷/۱۶) ۳- طلوع نیوز، ۱۴۴۷ ربیع الثانی ۲ (۱۴۰۴/۰۷/۰۳)



# آموزش؛ کلید به دست آوردن شغل، رشد و یادگیری مادام العمر است

**(این مقاله از ویبلاگ انگلیسی بانک جهانی ترجمه شده است)**

آموزش اساس برای اشتغال خوب و مطمئن ترین راه خروج از فقر است. ما می دانیم که آموزش یادگیرنده گان را به مهارت های اساسی مهم چون سواد آموزی، توانایی حساب و شایستگی های اجتماعی و عاطفی که برای کار و زنده گی مهم و اساسی می باشد، مجهز می سازند. این مهارت ها به کودکان امروزی کمک میکند تا کارگران مؤلد فردا باشند.

سرمایه گذاری در آموزش همچنین یک ضرورت اقتصادی برای رفاه فردی و رشد کلی اقتصادی است. شواهد نشان میدهد که آموزش بیشتر منجر به اشتغال بهتر، درآمد بالاتر و رشد سریع اقتصادی می شود. افرادی که داری تحصیلات عالی می باشد بطور دوامدار وظایف بهتری را بدست می‌آورند. همچنین، هر سال اضافی تحصیل، در حدود ۱۰ در صد درآمد آینده یک شخص را افزایش میدهد. همچنان سرمایه بشری شامل آموزش و صحت، نیمی از تفاوت در درآمد سرانه بین کشور ها را تشکیل میدهد.

با این حال، وعده‌ای آموزش خوب برای بسیاری از مردم، دور از دسترس می ماند.

**بحران رو به رشد مهارت ها**

امروز جهان با بحران عمیق مهارت ها مواجه است. نزدیک به ۴۰ در صدی کودکان بین ۳ تا ٦ سال، به آموزش پیش از مکتب دسترسی ندارد، این سالها برای رشد مهارت های شناختی و عاطفی که اساس یادگیری مادام العمر را تشکیل می دهند، حیاتی هستند. برای آن‌های که به مکتب می‌روند، نتایج یادگیری به شدت پائین است: ۷۰ در صد کودکان در کشور های با درآمد پائین و متوسط تا سن ۱۰ سالگی نمیتوانند یک پاراگراف را بخوانند و بفهمند.

پیامدهای این وضعیت تنها به صنف و مکتب محدود نمی‌شوند. قوه کاری جهانی در آستانه یک تحول بزرگ قرار دارد. پیشرفت‌های سریع در عرصه تکنالوژی ماهیت کار را تغییر می‌دهد و مهارت های جدید دیجیتال و شناختی را ایجاب می‌کند. تا سال ۲۰۳۰، به صورت تخمینی ٦۰ درصدی کارگران نیاز به آموزش جدید خواهد داشت که تقاضای بازار در حال تغییر کار را برآورده سازد.

این تغییرات هم‌زمان با تحولات عمده جمعیتی و تکنالوژیکی رخ می‌دهد. پیش بینی می شود که جمعیت جوانان افریقا تا سال ۲۰۵۰، حدود ۴۰ در صد افزایش یابد، که سرمایه گذاری های هوشمندانه در آموزش را به اولویت اصلی تبدیل می‌کند.

**طرحی برای عمل**

برای مبارزه با این چالش ها، گروه بانک جهانی یک پلان عالی برای تغییر سیستم های آموزشی طرح نموده است تا مردم را با مهارت های مجهز کند که نه تنها برای زنده ماندن بلکه برای پیشرفت و شکوفایی لازم است.

این پلان به منظور تسریع عمل شامل چهار ساحه ستراتیژیک می باشد، تا آموزش ابتدایی و یاد گیری مهارت های مرتبط به وظیفه را تقویت دهد.

نخست، تقویت یادگیری ابتدایی برای ایجاد یک پایه محکم. بعد، کودکان را در مکتب نگه می دارد و با استفاده از ابزارهای چون حمایت بهتر از معلمان، تکنالوژی یادگیری تطبیقی و انگیزه های شاگردان اطمینان حاصل می نماید که آنها یاد میگیرند. سپس، وقتیکه شاگردان در مراحل تحصیلي پیشرفت می‌کنند، باید مهارت های مرتبط با وظیفه را به ویژه از طریق مشارکت های صنعتی که آموزش عملی و نصاب تعلیمی را مطابق نیازهای بازار کار ارائه می‌دهند، بسازند. در نهایت، مهارت ها را باید با بهبود دسترسی به خدمات کاریابی، تشویق به کارآفرینی و ارائه برنامه های مهارت های جدید برای بزرگسالان به کار گرفت. هدف نهایی این است که جوانان را آماده کنیم تا با دانش و مهارت های لازم وارد بازار کار شده و موفق شوند. دیدگاه بانک جهانی این است تا اطمینان حاصل نماید که هر فرد دارای آموزش، مهارت ها و فرصت های مورد نیاز برای دسترسی به شغل است و استعداد بالقوه خود را درک کرده است، مگر هیچ کس نمی‌تواند این کار را به تنهایی انجام دهد.

**مشارکت با سکتور خصوصی**

سکتور خصوصی نقش بسیار مهمی در آماده کردن جوانان برای وظایف امروز و آینده ایفا می‌کند. بانک جهانی از طریق شاخه سکتور خصوصی خود یا شرکت مالی بین المللی تلاش خواهد کرد تا تاثیر خود را با تأمین مالی روش های ابتکاری برای تقویت تحصیلات عالی و ایجاد فرصت های جدید آموزشی و یادگیری مادام‌العمر برای جوانان و بزرگسالان به حداکثر برساند.

این شامل سرمایه گذاری روی آموزش تکنالوژی است که دسترسی را گسترش و نتایج یادگیری و همکاری با نهاد های تحصیلات عالی برای افزایش اشتغال پذیری را بهبود میبخشد. این همچنان به معنی مشارکت با صنعت برای توسعه برنامه های آموزشی پویا است که مهارت های مناسب از جمله تجربه عملی در محل کار، پروگرام های تخصصی پیشرفته را در زمان مناسب ارائه می دهد، تا شناخت و قابلیت انتقال مهارت ها را

تضمین و حرکت به سمت بالا در مسیر شغلی تسهیل دهد.

**شناسایی برنامه های مؤثر**

برای مقابله با این چالش ها، گروه بانک جهانی همچنان نیاز خواهد داشت که برنامه های موفق را شناسایی، سنجش و تقلید نماید. به طور مثال، در بنگله دیش پروژه‌ای برای ۲۸۰،۰۰۰ جوان آموزش و مشاوره حرفوی فراهم کرده است. در افریقا، پروگرام مرکز عالی تحصیلات عالی افریقا که برای رفع کمبودهای مهارتی در بخش های علوم ساینسی، تکنالوژی، انجینری، ریاضیات، زراعت، صحت، محیط زیست و آموزش طرح شده است، ۸۱ مرکز عالی را در ۵۰ پوهنتون در ۲۰ کشور ایجاد کرده است. این برنامه ظرفیت تحصیلات عالی و تحقیقات عملی در افریقا را به به طور قابل توجهی گسترش داده و کیفیت و مرتبط بودن برنامه های آموزشی و تربیتی را بهبود بخشیده است. با همین حال، پروگرام موفق به تازگی دهمین سالگرد خود را تجلیل کرد. در کشور شیلی شرکت مالی بین المللی با مؤسسه آموزش خصوصی (سانتو توماس) یکی از پیشتاز ترین مؤسسه آموزشی این کشور همکاری کرد تا یک چارچوب ارائه خدمات شغلی مناسب را برای دانشجویان خود در کنار موارد دیگر در بخش های پوهنتونی، تخنیکی و حرفوی ایجاد کند. این تلاش ها به دسترسی بهتر به تحصیلات عالی در شیلی، افزایش میزان فراغت و اشتغال زایی و گسترش فرصت ها برای افراد طبقه کم درآمد و والدین کارگر کمک کرده است.

نظارت بر نتایج و تمویل مالی بر اساس نتایج همچنان کمک خواهد کرد تا تمرکز از عوامل به نتایج تغییر یابد. برای انجام این کار، سرمایه گذاری در جمع‌آوری معلومات کلیدی است. همچنان، یک فرصت مهم دیگر استفاده از تکنالوژی دیجیتال و هوش مصنوعی است، که ابزارهای را ارائه می دهد که توانایی بالقوه گسترش دسترسی به آموزش، بهبود تدریس و یادگیری و نظارت و ارزیابی عملکرد را دارد. همچنان برای حمایت از تلاش های مهارت دیجیتلی گسترده، به شمول سواد رسانه یی بسیار مهم خواهد بود. این پلان روی مداخلات سریع تمرکز میکند که موفقیت، تفکر خلاقانه برای مقابله با چالش های جدید و متمرکز ماندن همیشگی روی مردم و توانایی های بالقوه آنها، را نشان داده است.

گروه بانک جهانی به عنوان یک نهاد یکپارچه با استفاده از تخصص چند سکتوری، تمویل مالی ابتکاری و راه حل های مبتنی بر شواهد در سطح گسترده فعالیت خواهد کرد. به منظور بسیج سازی منابع، این شامل حمایت از اصلاحات حکومتی، سرمایه گذاری های دراز مدت و ابزارهای جدید مانند (تبادلهٔ قرضه در برابر توسعه) و تبادلهٔ قرضه اخیر در کشور ساحل عاج، که منابعی را برای بهبود تعلیم و تربیه در سراسر کشور آزاد کرده است، می شود. به همین منظور، گروه بانک جهانی روی یک پلان تطبیقی کار می کند تا تمام برنامه ها را عملی نماید.

آماده گی شغلی زود آغاز میگردد و نیاز به یادگیری مادام العمر دارد. با همکاری شرکای خود میتوانیم راه حل های هوشمندانه‌تری طراحی کنیم و دسترسی به آموزش با کیفیت را برای یک آینده روشن تر و منصفانه تر گسترش دهیم.

نویسنده: لوییس بنوینیست

ترجمه: فاتح الله صافی، عضو بورد ترجمه د افغانستان بانک

---

مآخذ:

1-Benveniste, L. (2025, August 25). Education is a key to jobs, growth, and lifelong learning. World Bank Blogs. https://blogs.worldbank.org/en/education/education-is-a-key-to-jobs--growth--and-lifelong-learning



# له پوهې تر عمله؛ د ناورین د خطر لپاره د حل لارو زیاتول

(دا مقاله د پیسو نړیوال صندوق له ویبپاڼې څخه ژباړل شوې ده.)

پوهه، په ځانګړي ډول عملي او تجربوي پوهه، د هېوادونو لپاره حیاتي ارزښت لري تر څو وکولای شي له پرمختیایي ننګونې سره مقابله او د ناورین او کړکیچونو پر وړاندې مقاومت وکړي. د دې عملي پوهې تر ټولو اغېزناکه لاره د پالیسي جوړوونکو او کارپوهانو ترمنځ د تجربو شریکول دي.

**پېښو ته د رسېدنې لپاره د بیمې د نشتوالي ستونزه**

کله چې طبیعي پېښې رامنځته کېږي، د غوړېدو په حال ډېری هېوادونو کې خلک او کاروبارونه د بیمې آسانتیا نه لري چې دا کار حکومتونه دې ته اړ کوي تر څو د لګښتونو ډېره برخه پر غاړه واخلي. د بېلګې په توګه، په ۲۰۲۳ کال کې په مراکش، ترکیه او سوریه کې سختو زلزلو درانه انساني او اقتصادي زیانونه رامنځته کړل. د زیانونو کچې وښوده چې نه دولتي سکتور او نه هم خصوصي سکتور په یوازې ځان د دې یو ناڅاپي ناورین مدیریت کولای شي.

**حل لاره: د دولتي-خصوصي بیمې شراکتونه**

په مراکش او ترکیه کې د دولتي- خصوصي بیمې شراکتونو په ۲۰۲۳ کال کې د ناورینونو ځینې لګښتونه په ښه توګه جبران کړل. له دوی وروسته ځینو نورو هېوادونو هم دا موډل وکاراوه تر څو د بیمې پوښښ پراخه او د مالي زیانونو پر وړاندې خوندي پاتې شي. اوس پوښتنه دا ده: څنګه نور هېوادونه کولای شي دا موډل (شراکتونه) ومني او بیا په خپلو هېوادونو کې یې پراخه کړي؟

**د اغېز چټکتیا: د نړیوال بانک د ډلي اکاډمۍ نوي تګلاره**

په دې برخه کې د نړیوال بانک د ډلي اکاډمۍ نوي اغېز لرونکي پروګرامونه جوړ کړل، تر څو هېوادونه وکولای شي په چټکتیا سره اغېزناکې او آزمایښت شوې حل لارې زده او پلي کړي. د دې پروګرامونو له ډلې یو یې هم د ناورین د خطر لپاره مالي اکاډمي ده، چې د دولتي – خصوصي شراکتونو له لارې د ناورین/ پېښو پر وړاندې ارزانې بیمې ته ځانګړې شوې ده. د دې اکاډمۍ د جوړېدو موخه دا ده چې پوهه پر عمل بدله کړي.

د دې پروګرام پر بنسټ، د ۲۰۲۵ کال د اپرېل په میاشت کې د اروپا، مرکزي آسیا، منځني ختیځ او شمالي افریقا له ۱۴ هېوادونو څخه شاوخوا ۵۰ ګډونوال د ناورین د خطر مالي اکاډمۍ په غونډه کې راټول شوي وو، تر څو خپلې غوره تجربې شریکې او د یو بل له تجربو او مهارتونو زده کړه وکړي. په یاده غونډه کې دولتي چارواکو، د خصوصي سکتور مشرانو، نړیوالو کارپوهانو او همکارانو لکه د ترکیې د ناورین د بیمې صندوق، د بیمې د پراختیا ټولنې او د سیمې مخکښو پوهنتونونو لکه د بوغازیچي پوهنتون او د استانبول تخنیکي پوهنتون استازو ګډون کړی وو.

**د عمل لپاره د اداري جوړول**

د ناورین د خطر مالي اکاډمۍ پر درېیو مهمو موضوعګانو څرګندونې کړې چې د اصلاحاتو د چټکتیا او د دولتي – خصوصي شراکتونو د پلي کولو لپاره ډېر ارزښتناکه دي:

**۱.له عملي تجربو زده کړه:**

بریا هغه مهال ترلاسه کېږي چې د دولتي او خصوصي سکتورونو ترمنځ د پالیسۍ جوړونې ترڅنګ د زیانو په ورکولو کې سره نږدې همکاري موجوده وي. ګډون کوونکو په مستقیم ډول د هغو کسانو له تجربو زده کړه وکړله چې په مراکش او ترکیې کې یې د دولتي او خصوصي شراکتونو پروګرامونه جوړ کړي وو. د مراکش موډل تضمینوي چې هېڅ څوک به د بیمې له پوښښ څخه پاتې نه شي، حال دا چې د ترکیې تګلاره د جبري او ارزانه بیمې له لارې د پراخه پوښښ او د پېښو د زیانونو اغېزمنې اداینې تضمینوي.

**۲. د حل لارو پراختیا لپاره پر عملي ګامونو تمرکز**

دې پروګرام، د دولتي – خصوصي شراکتونو د رامنځته کولو لپاره په تدریجي ډول تخنیکي لارښوونې وړاندې کړې د دې ترڅنګ یې د خصوصي سکتور متخصصینو د بزګرانو، کورنیو او کاروبارونو لپاره د دولتي - خصوصي شراکتونو د جوړولو عملي بېلګې شریکې کړې او حتی هغه لارې چارې چې تجربې یې بریالۍ نه وې هم روښانه کړې. دې پروګرام له ګډونوالو سره مرسته وکړه تر څو د خپلو هېوادونو د اړتیاوو په پام کې نیولو سره خپلې شته تګلارې اصلاح کړي او مشخص عملي پلانونه جوړ کړي.

**۳. د هېوادونو ترمنځ د متقابلو زده کړو د زمینې برابرول**

د بېلابېلو تجربو لرونکو هېوادونو په راټولولو سره اکاډمۍ د هغو کارپوهانو ترمنځ چې ډېر کله سره نه شي راټولېدای، د آزادې تبادلې او همکارۍ زمینه برابره کړه. تر څو ګډون کوونکي د دې پروګرام له لارې دواړه تخنیکي او عملي برخې وپلټي او خپلې تجربې او مهارتونه سره شریک کړي او همدا ډول د خپلو سیاسي او اداري شرایطو سره سم ورته حل لارې پیدا کړي

**نړیوال اغېز**

د دې پروګرام په پای کې څو هېوادونو ژمنه وکړه چې د دولتي - خصوصي سکتور مشارکتي پروژو ته به وده ورکړي او یا به یې پلې کړي. د نړیوال بانک ډلې د اکاډمۍ ملاتړ له استانبول څخه وروسته پای ته نه دی رسیدلی. همدا ډول، اکاډمي په یاده برخه کې د دوامدارې زده کړې ملاتړ کوي. همدا راز له هغو هېوادونو سره چې اصلاحاتو ته لېواله دي، همکاري کوي او ور سره د پایلو په خارلو او ارزولو کې مرسته کوي او په یاده برخه کې ګټورې تجربې راټولوي تر څو له نورو ګډون کوونکو هېوادونو سره یې شریکې کړي.

د دې حرکت پر بنسټ، نوي اغېز لرونکي پروګرامونه ترسره شوي دي چې دا پروګرامونه له ښارونو سره د برېښنایي ټرانسپورټ د حل لارو په زیاتولو، د ودې لپاره د پرمختللو میتودونو په وړاندې کولو او په پرمختیایي هېوادونو کې د ډېرو او غوره دندو په پیدا کولو کې مرسته کوي. په ورته وخت کې، د نړیوال بانک ډلې اکاډمي د اغېز لرونکي پروګرامونو د جوړېدو له لارې د ټولې نړۍ کارپوهان او تجربه لرونکي اشخاص سره راټولوي، تر څو له عملي نړیوالو تجربو زده کړه وکړي او سیمه ایزو عملي حل لارو ته وده ورکړي.

**لیکوالان:** ژان پېسمي او اروپ بانرجي

**ژباړونکی:** صفي احمد ناصري، د افغانستان بانک د ژباړې د بورډ غړی

اخذلیکونه:


1- Jha, A. K. (2025, September 24). Turning knowledge into action: Scaling solutions for disaster risk. World Bank Blogs.



# تولید برق
## و فرصت‌های سرمایه گذاری

افغانستان سرزمینی است که همزمان با چالش کمبود انرژی، ظرفیت‌های خوبی برای تولید برق دارد. کمبود برق اگرچه برای مردم و صنایع مشکل‌آفرین است، اما برای سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی یک فرصت طلایی محسوب می‌شود. کشوری با کوه‌ها و دره‌های پرآب، روزهای طولانی آفتابی و وزش بادهای مداوم، می‌تواند نه‌تنها نیاز داخلی خود را رفع کند، بلکه به یک صادرکننده برق در منطقه نیز تبدیل گردد.

آمارها و بررسی‌های انجام‌شده نشان می‌دهد که بیشترین برق افغانستان هنوز از کشورهای همسایه وارد می‌شود. تولید داخلی نیز بیشتر بر پایه بندهای آبی مانند نغلو، سروبی، کجکی و سلما و گاهی هم ایستگاه‌های دیزلی پرمصرف استوار است. با این حال، ظرفیت واقعی آب‌های روان کشور به اساس آمار ها، بیش از ۲۳ هزار مگاوات برآورد می‌شود که کمتر از پنج درصد آن استفاده شده است. این تفاوت بزرگ میان ظرفیت بالقوه و بالفعل، خود دلیلی روشن برای ضرورت سرمایه‌گذاری است.

انرژی خورشیدی یکی از بزرگ‌ترین فرصت‌ها به شمار می‌آید. افغانستان با داشتن بیش از سه صد روز آفتابی در سال، از معدود کشورهای جهان است که در این بخش ظرفیت تقریباً نامحدود دارد. فارم‌های خورشیدی در هرات و قندهار نمونه‌های موفق سرمایه‌گذاری‌های خصوصی‌اند که نشان داده‌اند برق می‌تواند به ساده‌ترین و پاک‌ترین شیوه در اختیار خانواده‌ها و صنایع قرار گیرد.

انرژی بادی نیز از دیگر ظرفیت‌های بکر افغانستان است. بادهای پیوسته در مناطق غربی و شمالی، به ویژه در هرات و بادغیس، شرایط مناسبی برای

تأسیس فارم‌های بادی فراهم ساخته است. اگر سکتور خصوصی و نهادهای بین‌المللی در این عرصه سرمایه‌گذاری کنند، کشور می‌تواند بخش بزرگی از نیاز انرژی خود را با کمترین هزینه تأمین کند. در کنار این منابع، پروژه‌های منطقه‌ای همچون کاسا–۱۰۰۰ و تاپی جایگاه ویژه‌ای دارند. این پروژه‌ها علاوه بر آنکه افغانستان را به چهارراه انرژی منطقه بدل می‌سازند، زمینه عایدات و کاریابی گسترده را نیز فراهم می‌کنند. سرمایه‌گذاری در سکتور انرژی پیامدهای انسانی عمیقی دارد. برق پایدار می‌تواند فقر را کاهش دهد، فرصت‌های کاری تازه ایجاد کند، زمینه رشد آموزش و خدمات صحی را فراهم آورد و محیط‌زیست را از آلودگی ناشی از سوخت‌های فسیلی محافظت نماید. دسترسی به برق در روستاها امید اجتماعی را افزایش می‌دهد و مانع مهاجرت‌های بی‌رویه به شهرها می‌شود. با وجود ظرفیت‌های عظیم تولید برق در افغانستان، بسیاری از ساختمان‌های شهری هنوز برای تأمین انرژی از ذغال‌سنگ و سایر سوخت‌های فسیلی استفاده می‌کنند. این روش نه‌تنها باعث تولید دود و آلودگی شدید هوا می‌شود، بلکه سلامت ساکنان را نیز به خطر می‌اندازد و کیفیت زندگی شهری را کاهش می‌دهد. کمبود برق و استفاده از منابع آلوده‌کننده هوا سبب می‌شود که حتی در ساعات روز، شهرها به ویژه کابل غیرقابل تنفس شود و دید محدود گردد، که زندگی روزمره مردم را تحت تأثیر قرار می‌دهد. این وضعیت نشان می‌دهد که سرمایه‌گذاری در تولید برق پاک و پایدار نه تنها یک ضرورت اقتصادی بلکه یک وظیفه انسانی و اجتماعی است. سرمایه‌گذاران داخلی نقش حیاتی در توسعه پایدار بخش تولید برق دارند. این سرمایه‌گذاران نه تنها با تزریق منابع مالی ظرفیت تولید انرژی را افزایش می‌دهند، بلکه مسئولیت اجتماعی و اقتصادی در قبال جامعه خود را نیز بر عهده دارند. حمایت از پروژه‌های خرد و متوسط تولید برق، به ویژه در بخش انرژی‌های تجدیدپذیر، می‌تواند ایجاد فرصت‌های کاری، بهبود رفاه اجتماعی و افزایش استقلال انرژی کشور را تضمین کند. بنابراین، سرمایه‌گذاران داخلی با ایفای نقش فعال و مسئولانه، موتور اصلی توسعه اقتصادی و تحقق اهداف انرژی پایدار در کشور هستند.

در نتیجه افغانستان با داشتن ظرفیت بالایی برای تولید برق از منابع تجدیدپذیر، می‌تواند در آینده بیش از ۲۲۲٬۰۰۰ مگاوات برق از انرژی خورشیدی و حدود ۶۶٬۰۰۰ مگاوات از انرژی بادی تولید کند. بهره‌برداری از این منابع می‌تواند نه تنها نیازهای داخلی کشور را تأمین کند، بلکه امکان صادرات برق به کشورهای همسایه را نیز فراهم سازد. هرچندی که در سال‌های اخیر، سرمایه‌گذاری‌های قابل توجهی در پروژه‌های انرژی خورشیدی و بادی در افغانستان انجام شده است. این سرمایه‌گذاری‌ها می‌توانند به تولید داخلی برق کمک کنند و مسیر رشد اقتصادی و انرژی پاک را هموار سازند.

**نویسنده: محمد کاظم سروری مدیر ارتباط رسانه یی دفتر ریاست د افغانستان بانک**

**منابع و مآخذ:**

۱ .بانک جهانی (World Bank). Energy Sector in Afghanistan: Opportunities and Challenges. ۲۰۲۳.

۲ .وزارت انرژی و آب افغانستان. گزارش سالانه سکتور انرژی. ۱۴۰۲.

۳ .بانک آسیایی توسعه (Asian Development Bank – ADB). Afghanistan Energy Sector Assessment. ۲۰۲۲.

۴ .شرکت برشنا افغانستان (Da Afghanistan Breshna Sherkat – DABS). Annual Report. ۲۰۲۳.

۵ .برنامه توسعه ملل متحد (UNDP). Renewable Energy for Rural Development in Afghanistan. ۲۰۲۱.

# د بانکونو پیریدونکو ته د غوره خدمتونو په وړاندې کولو کې د معلوماتي ټکنالوژۍ رول

په اوسني نړیوال سوداګریز چاپېریال کې د مالي ادارو، په ځانګړې توګه د بانکونو د بریالیتوب لپاره د پیریدونکو خدمتونه ډېر مهم رول لري. د پیریدونکو خدمتونه یوازې د پېسو لېږد او د حسابونو د سمبالولو دنده نه ترسره کوي؛ بلکه د پیریدونکو د اړتیاوو پېژندنه، د هغوی ستونزو ته پر وخت، چټک او اغېزمن ډول ځواب ورکول، او د باور جوړول هم پکې شامل دي. پیریدونکي د بانکونو اصلي پانګه ګڼل کېږي او د هغوی رضایت د بانک د اقتصادي ودې لپاره ضروري دی.

په تېرو څو کلونو کې د ټکنالوژۍ بېساري پرمختګ د پیریدونکو خدمتونو د بنې او څرنګوالي په بدلون کې کلیدي رول لوبولی دي. بانکونه اوس په نړیواله کچه له دودیزو فزیکي خدمتونو څخه ډیجیټل او اتوماتو خدمتونو ته مخه کړې ده. دا بدلون د پیریدونکو لپاره د خدمتونو آسانتیاوې رامنځته کوي، د بانکونو داخلي عملیات چټک کوي، او د مالي روڼتیا او امنیت په زیاتولو کې مرسته کوي.

**د پیریدونکو خدمتونه څه ډول خدمتونه دي؟**

د پیریدونکو خدمتونه په بانکونو کې هغه ټولې کړنلارې، پروسې، او ټکنالوژۍ رانغاړي چې د بانک او پیریدونکي تر منځ



د اړیکو د ښه‌والي او خدمتونو د وړاندې کولو لپاره کارول کېږي چې د مالي راکړې ورکړې او حسابونو اداره، د مشتریانو پوښتنو ته ځواب ورکول او د هغوی ستونزې حل کول، د معلوماتو ورکول او د خدمتونو په اړه لارښوونه، د نویو محصولاتو معرفي او پیریدونکو ته مناسبې حل لارې وړاندې کول، د شکایتونو اوریدل او په اغېزمن ډول یې هوارول او داسې نورې کړنې پکې شاملې دي. په ښه، آسانه او ګټوره توګه د خدمتونو وړاندې کول د پیریدونکي او بانک تر منځ د باور او اعتماد جوړولو فضا رامنځته کوي.

**د پیریدونکو خدمتونو ارزښت او اغېز**

په عصري بانکوالۍ کې د پیریدونکو خدمتونه د بانک د شهرت او بازارموندنې لپاره یو مهم عنصر دی. څېړنې ښیي چې که پیریدونکی د خدمتونو څخه خوښ نه وي، په چټکۍ سره د بانک د خدمتونو کارولو څخه لاس اخلي او خپلې مالي اړتیاوې په بل ځای کې پوره کوي. له دې امله، بانکونه باید خپل خدمتونه داسې وړاندې کړي چې پیریدونکي هر وخت قانع او ډاډمن پاتې شي.

د پیریدونکو خدمتونه د بانک داخلي موثریت هم لوړوي. کله چې د پیریدونکي ستونزې ژر او په ښه ډول حل شي، د بانک دننه نورې څانګې لکه د پور ورکولو څانګه، مالي څار، او امنیتي واحدونه هم د خپلو چارو په ښه ترسره کولو توانیږي. په ټوله کې، د پیریدونکو غوره خدمتونو له لارې، بانک کولای شي خپلې مالي ګټې ډېرې کړي، د بازار په سیالۍ کې مخکښ پاتې شي، او په نړیواله کچه خپل موقف پیاوړی کړي.

**پیریدونکو ته د خدمتونو په وړاندې کولو کې د ټکنالوژۍ رول**

په تېرو کلونو کې، ټکنالوژۍ په بانکونو کې د پیریدونکو خدمتونو څرنګوالی په بشپړه توګه بدل کړی دی. اوس پیریدونکي د بانکي خدمتونو لپاره اړتیا نلري چې بانک ته فزیکي مراجعه وکړي؛ دوی کولای شي د موبایل، آنلاین بانکوالۍ، او د صرافۍ خپلکاره ماشینونو (ای ټي ایم) له لارې خپل کارونه په آسانۍ او چټکۍ سر ته ورسوي.

سربېره پر دې، ټکنالوژي بانکونو ته دا توان ورکوي چې د پیریدونکو د اړتیاوو، د هغوی د مالي چلند، او ستونزو په اړه ژوره څېړنه وکړي، او د معلوماتو پر اساس ځانګړي او شخصي شوي خدمتونه وړاندې کړي. دا هم د ټکنالوژۍ په مرسته امکان لري چې بانک د پیریدونکو سره غوره اړیکې وساتي، هغوی ته د خدمتونو وړاندې کولو کیفیت لوړ کړي، او په پایله کې د بانک د اعتبار او باور کچه لوړه کړي.

په اوسنۍ نړۍ کې چې هر څه ډیجیټلي کېږي، بانکونه هم اړ دي چې د خپلو پیریدونکو د اړتیاوو پوره کولو لپاره له پرمختللو معلوماتي ټکنالوژیو څخه ګټه واخلي. د معلوماتي ټکنالوژۍ په مرسته، بانکونه کولای شي خپل خدمتونه چټک، دقیق، شفاف او په مؤثره توګه وړاندې کړي. د ټکنالوژۍ چارې بانکونو ته دا فرصت برابروي چې پیریدونکي په هر وخت او هر ځای کې خدمتونه ترلاسه کړي. د موبایل، آنلاین بانکوالۍ او د صرافۍ خپلکاره ماشینونو (ای ټي ایم) په مرسته، پیریدونکي اړتیا نلري چې په حضوري توګه بانک ته مراجعه وکړي، چې دا کار د وخت او پیسو سپما کوي او خدمتونو ته چټک لاسرسی برابروي.

معلوماتي ټکنالوژي بانکونو ته دا وړتیا ورکوي چې د پیریدونکو ستونزې ژر وپیژني، د هغوی د ترسره کړو معاملاتو په اړه بشپړ معلومات ولري، او د شخصي او متناسبو خدمتونو وړاندې کولو توان ولري. دا د پیریدونکي رضایت زیاتوي او د بانک اعتبار پیاوړی کوي. د پیریدونکو په اړه راټول شوي معلومات د معلوماتي ټکنالوژۍ سیستمونو په مرسته تحلیل کېږي ترڅو

بانکونه وکولای شي د بازار اړتیاوې په ښه توګه درک کړي، نوي خدمتونه طرحه کړي، او د پیریدونکو ستونزې پر وخت حل کړي. د معلوماتو دا ځېړنه د بانک د سوداګریزو پرېکړو لپاره مهمه سرچینه ده.

په بانکوالۍ کې د پیریدونکو د شخصي او مالي معلوماتو امنیت خورا ډېر اهمیت لري. د معلوماتي ټکنالوژۍ په مرسته، بانکونه کولای شي د هک کولو، درغلیو، او نورو سایبري بریدونو مخه ونیسي، چې دا د پیریدونکو باور زیاتوي او بانک له مالي زیانونو څخه ساتي. معلوماتي ټکنالوژي د بانک کارکوونکو لپاره هم آسانه او موثره کاري چاپېریال برابروي. د اتوماتو سیستمونو له لارې، د کارکوونکو وخت سپما کېږي او د ستونزو حل چټک کېږي، چې په پایله کې د بانک ټولیز فعالیت ښه کېږي.

**د پیریدونکو د خدمتونو پرمختللي ټکنالوژیکي وسایل**

په اوسنۍ نړۍ کې د پیریدونکو خدمتونه یوازې د انسانانو له لارې نه، بلکې د پرمختللو ټکنالوژیو په مرسته هم ترسره کېږي. د بانکوالۍ په سکتور کې لاندې وسایل خورا مهم دي چې د پیریدونکو رضایت زیاتوي او خدمتونه چټک او اغېزمن کوي.

**۱ .د هیلپ ډیسک یا د مرستې میز سیستم**

د مرستې میز د پیریدونکو ستونزې، پوښتنې، او غوښتنې د ثبتولو، تعقیبولو او حل کولو لپاره یو مرکزي سیستم دی. د دې سیستم اصلي موخه دا ده چې د پیریدونکو ستونزې ژر تر ژره حل شي او د خدمتونو کیفیت لوړ شي. په دې سیستم کې د ستونزو ثبت او ډلبندي، د خدمت ښه والی تضمینول، د ستونزو د حل پړاوونه څارل او راپور جوړول، د کارکوونکو ترمنځ ښه همغږي او د معلوماتو شریکول شامل دي.

**چټ باټ یا مجازی مرستیال**

چټ باټ هغه پروګرامونه دي چې د مصنوعي ځیرکتیا په مرسته د پیریدونکو پوښتنو ته په اتومات ډول ځوابونه ورکوي. دوی کولای شي په ۲۴ ساعتونو کې، پرته له انساني مداخلې، د عامو پوښتنو لکه د حساب توازن، د پور وضعیت، او د بانک د کاري ساعتونو په اړه معلومات ورکړي. چټ باټ د پیریدونکو د رضایت کچه لوړوي، ځکه چې دوی په هر وخت کې چټک ځواب ترلاسه کوي، او د بانک د کارکوونکو وخت سپما کوي ترڅو دوی په پیچلو مسایلو کار وکړي.

**د پیریدونکو د خدمتونو د مدیریت سیستم**

د پیریدونکو د خدمتونو د مدیریت سیستمونه د پیریدونکو ټول معلومات لکه د هغوی اړیکې، تعاملات، ستونزې، او خدمتونو ته اړتیاوې په یوه ځای کې ساتي. دا سیستم بانکونو ته اجازه ورکوي چې پیریدونکو ته شخصي شوي، دقیق او مناسب خدمتونه وړاندې کړي. د دې سیستم له لارې بانکونه کولای شي چې د معلوماتو تحلیل، د پیریدونکو چلند او اړتیاوې معلومې کړي، چې بانکونه ورڅخه د نوو محصولاتو جوړولو او د بازار د غوښتنو د پوره کولو لپاره ګټه اخلي.

**اتومات خدمتونه**

د بانکونو اتومات خدمتونه لاندې برخې رانغاړي:

د صرافۍ خپلکاره ماشینونه (ای ټي ایم) چې پیریدونکو ته ۲۴ ساعته د پیسو را ایستلو او جمع کولو آسانتیا برابروي. آنلاین بانکوالي چې له لارې یې پیریدونکي په انټرنیټ د خپلو حسابونو مدیریت ترسره کولای شي، پیسې لیږدولای شي، او مالیاتي راپورونه ترلاسه کوي. موبایل بانکوالي چې د ځیرکو تلیفونونو له لارې پیریدونکو ته خدمتونه وړاندې کوي، او د بانک خدمتونو ته لاسرسی آسانوي. د اتوماتو خبرتیاو سیستمونه لکه لنډ پیغام (ایس ایم ایس) یا برېښنالیک چې پیرېدونکي په حسابونو کې د بدلونونو، اداینو، او نورو مهمو معلوماتو څخه خبر ساتي.

**د پیریدونکو مسؤلیت او د بانکي خدمتونو په اړه پوهاوی**

بانکونه خپلو پیریدونکو ته مختلف پرمختللي او آسانه خدمتونه وړاندې کوي خو دا مهمه ده چې پیریدونکي هم د دې خدمتونو په کارولو پوهه ترلاسه کړي او خپله ونډه په خوښۍ او ځیرکتیا سره ترسره کړي.

**ولې د بانکي خدمتونو په هکله پوهاوی مهم دی؟**

کله چې پیریدونکي د بانک د خدمتونو په هکله غوره پوهاوی ولري، نو کولای شي په آسانۍ او چټکۍ خپلې مالي چارې ترسره او له اوږدو قطارونو او نورو ستونزو څخه ځان وساتي. همداراز، د خدمتونو په سمه توګه کارول د معلوماتو د خوندیتوب سبب ګرځي او د ناځاپي تېروتنو او درغلیو مخه نیسي. کله چې پیریدونکي د بانک خدمتونو په اړه ښه پوهه ولري، د بانک سره یې اړیکه پیاوړې کېږي او د همکارۍ فضا لا ښه کېږي. د پیریدونکو فعال ګډون بانکونو ته هڅونه ورکوي چې نوي او غوره خدمتونه وړاندې کړي.

**پیریدونکي څنګه کولای شي چې د بانکي خدمتونو په هکله غوره پوهاوی ترلاسه کړي؟**

پیریدونکي کولای شي چې لاندې موارد په بام کې ونیسي:

- د بانکونو له خوا وړاندې شوي روزنیز مواد او ویبینارونه په مینه او لېوالتیا سره وڅاري.
- که کومه پوښتنه یا ستونزه وي، پر وخت له بانک سره اړیکه ونیسي.
- د خدمتونو د کارولو په اړه زدکړې ته دوام ورکړي او له نوو ټکنالوژیو سره ځان بلد کړي.
- خپلو ملګرو او کورنۍ ته هم د بانکي خدمتونو په اړه معلومات ورکړي، ترڅو ټولنه په دې برخه کې پرمختګ وکړي.

که پیریدونکي او بانکونه دواړه په ګډه د خدمتونو د کارولو پر پوهاوي تمرکز وکړي، نو بانکي سیستم به هر اړخیز پرمختګ وکړي او خدمتونه به نور هم ښه شي.

**په اسلامي بانکوالۍ کې د معلوماتي ټکنالوژۍ ځانګړي او پرمختللي خدمتونه**

د دې ځانګړتیا له کبله، اسلامي بانکونه د معلوماتي ټکنالوژۍ ځانګړي وسایل او سیستمونه کاروي چې د شریعت د قواعدو سره بشپړ مطابقت لري او پیریدونکو ته آسانتیاوې او خوندي خدمتونه وړاندې کوي .په اسلامي بانکوالۍ کې هره مالي معامله باید له اسلامي اصولو سره سمه وي. د بانک معلوماتي ټکنالوژۍ سیستمونه داسې جوړ شي چې د اسلامي تړونونو لکه مضاربې، مشارکت، مرابحې او اجارې د ثبت او څارنې بشپړ فعالیت وکړي. دا سیستمونه ډاډ ورکوي چې هره معامله د شریعت د بورډ له خوا تصویب شي وي او د اسلامي قوانینو خلاف نه وي.

په اسلامي بانکوالۍ کې ګټې د شریکانو ترمنځ په عادلانه توګه ویشل کېږي، نو د دې لپاره ځانګړي محاسبوي سیستمونه په معلوماتي ټکنالوژۍ کې شامل دي. دغه سیستمونه د ګټو وېش او د مالیاتو د راپور ورکولو چارې په اتومات ډول ترسره کوي چې له دې لارې روڼتیا او دقت تضمینیږي.

د اسلامي بانکوالۍ د پیریدونکو لپاره د معلوماتي ټکنالوژۍ له لارې د خدمتونو وړاندې کولو څو بېلګې لاندې وړاندې کیږي:

د سعودي عربستان بانک الاسلامي د مرابحې د تړونونو د ثبتولو لپاره ځانګړی مرکزي بانکي سیستم کاروي چې د هر پړاو (توکي، قیمت، ګټې، قسطونو) معلومات په اتومات ډول ثبتوي او د شریعت بورډ منظوري ترلاسه کوي؛ د پاکستان میزان بانک د مشارکت لپاره د ګټې د ویش ځانګړی سیستم کاروي چې د پانګې، مودې، او عوایدو تحلیل له مخې د ګټې عادلانه ویش تضمینوي؛ د دوبۍ اسلامي بانک د مضاربې د

حسابونو د مدیریت لپاره ځانګړی څارنیز ماډیول کاروي چې د هر حساب لپاره د ګټې او تاوان د ویش ځانګړی تناسب ټاکي او اتومات راپورونه یې شریعه بورډ ته لیږي؛ د "بانک معاملات" په نوم اندونیزیایي بانک د اجارې مدیریت لپاره ځانګړی سیستم لري چې د اجارې موده، قسطونه، د ملکیت وضعیت، او د پای نیټه ثبتوي؛ همدا راز کویت مالي اداره د شریعت د مطابقت لپاره یو ځانګړی سیستم لري چې هر نوی مالي محصول یا تړون لومړی د شریعت تصدیق ته استوي؛ او د بحرین البرکه بانک یو ځانګړی موبایل اپلیکیشن لري چې یوازې اسلامي مالي محصولات پکې شامل دي، سود لرونکي حسابونه نه لري، او د ځیرکې ټکنالوژۍ له لارې د معاملاتو تحلیل د شریعت سره سم ترسره کوي.

**نوې ټکنالوژۍ او نوښتونه**

د نړۍ مخ پر ودې اسلامي بانکونو کې نوې ټکنالوژۍ لکه مصنوعي ځیرکتیا او بلاک چین ټکنالوژي کارول کېږي ترڅو مالي معاملات خوندي، آسانه او چټک شي. د دې ټکنالوژیو په مرسته، بانکونه کولای شي خپلو پیریدونکو ته ځانګړي او شخصي مالي خدمتونه وړاندې کړي.

همدا راز، بریښنایي بټوې او موبایل بانکوالي د اسلامي بانکونو د خدمتونو برخه ګرځېدلې، چې دا هم د شریعت مطابق چمتو کېږي او پیریدونکو ته د مالي معاملو لپاره آسانتیاوې برابروي.

په ټوله کې، د اسلامي بانکوالۍ پرمختللي معلوماتي ټکنالوژیکي خدمتونه پیریدونکو ته آسانتیاوې برابروي، د شریعت اصولو رعایت یقیني کوي، او د بانکوالۍ سیستم خوندي کوي.

**پایله او سپارښتنې**

د پیریدونکو خدمتونه د هر بانک د بریالیتوب مهم اصل دی، او په ځانګړي ډول په اسلامي بانکوالۍ کې باید د ټکنالوژۍ کارول د شریعت اصولو ته په کتو سره تنظیم شي. د عصري معلوماتي ټکنالوژۍ وسایلو لکه د مرستې میز، چټ باټ او د پیریدونکو د خدمتونو د مدیریت سیستمونو او د اتوماتو خدمتونو په مرسته بانکونه کولای شي خپلو پیریدونکو ته آسانه، چټک، او خوندي خدمتونه وړاندې کړي.

په اسلامي بانکوالۍ کې د ځانګړو معلوماتي ټکنالوژیو پراختیا نه یوازې د شریعت د اصولو د پلي کولو تضمین کوي، بلکه د مالي روڼتیا ، دقت، او د ګټو عادلانه وېش کې هم مهم رول لري. د نوو ټکنالوژیو لکه مصنوعي ځیرکتیا او بلاک چین ټکنالوژۍ کارول، د بانکوالۍ سیستمونو ته نوی ژوند ورکوي او د پیریدونکو باور پیاوړی کوي. پیریدونکي هم باید د دې پرمختللو خدمتونو د کارولو لپاره پوهاوی ترلاسه کړي او له بانکونو سره په ګډه کار وکړي ترڅو په بشپړ ډول د بانکي خدمتونو له ګټو څخه برخمن شي. ټکنالوژي او اسلامي بانکوالي په ګډه کولای شي چې د هېواد اقتصادي پراختیا ته لاره هواره او د بانکوالۍ سیستمونه د عصري نړۍ له معیاري خدمتونو سره برابر کړي.

**لیکنه:** یحیی همیم – د معلوماتي ټکنالوژۍ د مرستې میز مدیر، د افغانستان بانک

اخذلیکونه:

1. Bakhit, M., Bilal, A. O. A., & Babiker, I. (2024). *Exploring Murabaha Financing at Al Rajhi Bank: A Key Indicator of Growth in Saudi Arabia's Islamic Banking Sector. Open Journal of Business and Management, 12*(6), 4359–4381. https://doi.org/10.4236/ojbm.2024.126219

2. Dubai Islamic Bank. (n.d.). Mudaraba Products & Services. Retrieved October 20, 2025, from https://www.dib.ae/business/products-services/mudaraba

3. Bakhit, M., Bilal, A. O. A., & Babiker, I. (2024). Exploring Murabaha Financing at Al Rajhi Bank: A Key Indicator of Growth in Saudi Arabia's Islamic Banking Sector. Open Journal of Business and Management, 12(6), 4359–4381. https://www.scirp.org/pdf/ojbm2024126_331534189.pdf

**پولشویی از چشـــم نهاد های نظارتی و تنفیذی پنهان نمی ماند، قبل از آن که پول، دارایـــی و شهرت تان صدمه ببیند، از فعالیتهای نامشروع مالی جلوگیری کنید و طرف بهبود اقتصـــــــاد کشور خود را تقویه کنید.**





institutions is fragile.

At the same time, gold is not without limitations. It doesn't yield interest, and its price can fluctuate based on global demand, mining output, and investor sentiment. Yet despite these factors, its role in reserve portfolios remains remarkably stable. Central banks continue to treat gold as a foundational asset, quiet, durable, and ready to serve when other instruments weaken.

## Conclusion

Gold remains one of the few assets that transcends political systems, economic ideologies, and market cycles. Its enduring presence in central bank vaults is not a relic of the past, but a reflection of strategic foresight. In times of crisis, gold offers liquidity without reliance on counterparties. In periods of inflation or currency instability, it preserves purchasing power. And in an increasingly fragmented global landscape, it signals sovereignty, trust, and resilience. Whether accumulated gradually or repatriated with ceremony, gold continues to serve as a quiet guardian of national stability, valued not for what it earns, but for what it protects. As central banks adapt to new financial realities, gold remains a timeless constant in their reserve strategies.

Anwar Ullah Hayat
Senior Publications Manager, DAB

**References:**

1. World Gold Council. (2025). *Central bank gold reserves survey 2025*. https://www.gold.org/goldhub/research/central-bank-gold-reserves-survey-2025
2. World Gold Council. (2025). *Gold reserves by country dashboard*. https://www.gold.org/goldhub/data/gold-reserves-by-country
3. International Monetary Fund. (2025). *International Financial Statistics (IFS)*. https://data.imf.org
4. Veyrune, R. (2025, September 19). *Stress tests can help determine how much capital central banks need*. IMF Blog. https://www.imf.org/en/Blogs/Articles/2025/09/19/stress-tests-can-help-determine-how-much-capital-central-banks-need
5. World Bank Treasury. (2025). *Reserve management survey report*. https://treasury.worldbank.org/en/about/unit/treasury/impact/reserve-management-survey-report
6. Bank for International Settlements. (2025). *Central bank reserve management*. https://www.bis.org
7. European Central Bank. (2025). *Gold in reserve portfolios*. https://www.ecb.europa.eu
8. World Gold Council. (2025). *Gold demand trends Q2 2025*. https://www.gold.org/goldhub/research/gold-demand-trends
9. International Monetary Fund. (2025). *IMF annual report 2025 – Appendices*. https://www.imf.org/external/pubs/ft/ar/2025/pdfs/imf-annual-report-2025-appendices.pdf

as a strategic buffer against global volatility. The United States holds 8,133.5 metric tons of gold, accounting for approximately 78% of its total foreign reserves. Germany follows with 3,352.6 tons, representing around 68% of its reserves. Italy and France hold 2,451.8 and 2,436.0 tons respectively, each making up about 65% and 64% of their total reserves. Russia, with 2,332.7 tons, has allocated roughly 25% of its reserves to gold. These figures, drawn from the latest World Gold Council and IMF data, highlight gold's continued relevance in a world of shifting economic dynamics.

**A strategic Tool**

Over the past decade, global data has shown a steady increase in central bank gold reserves, with patterns emerging across both advanced and emerging economies. Reports from institutions like the World Gold Council and the IMF highlight how gold has become a preferred asset during periods of financial stress, currency volatility, and geopolitical uncertainty. Analysts often compare gold's behavior to other reserve assets, noting its resilience and liquidity in times of crisis. Policy statements and historical decisions, such as Germany's gold repatriation or Turkey's accumulation during inflation, offer insight into how different countries use gold to signal stability and safeguard national wealth. By observing these trends, it becomes clear that gold continues to serve as a strategic tool in reserve management, valued not only for its market performance but also for its symbolic and sovereign strength.

Recent patterns in global reserve management show that gold continues to play a vital role in how central banks navigate uncertainty. When currencies fluctuate, interest rates shift, or geopolitical tensions rise, gold often becomes the asset of choice, not because it generates income, but because it preserves trust. Unlike bonds or foreign currencies, Gold carries no counterparty risk because it doesn't depend on another government's promise or a financial institution's solvency. This makes it particularly valuable in times of crisis, when access to cash and trust in financial systems are most important.

Gold's behavior during inflationary periods further reinforces its appeal. In countries facing currency depreciation or rising consumer prices, gold tends to retain purchasing power, offering a hedge against monetary instability. This is particularly evident in emerging markets, where central banks have increased their gold holdings to reduce dependence on volatile foreign exchange reserves.

Moreover, gold's symbolic weight cannot be ignored. It signals strength, independence, and long-term thinking. When a central bank announces gold repatriation or accumulation, it often sends a message to both domestic and international audiences that central bank is prepared and sovereign. This psychological dimension adds to gold's strategic value, especially in regions where public trust in financial

aims to demonstrate why gold remains not merely a relic of the past, but a strategic pillar of modern monetary policy.

**Why Gold?**

The role of gold in central bank reserve management has been extensively studied across institutional reports, academic research, and historical analyses. The World Gold Council's 2025 Central Bank Gold Reserves Survey found that over 70% of respondents cited gold's performance during times of crisis, its long-term store of value, and its diversification benefits as key reasons for holding it. This aligns with earlier findings from the IMF and Bank for International Settlements, which emphasize gold's ability to strengthen balance sheets and enhance public trust in monetary authorities.

Historically, from the Bretton Woods system to post-crisis stabilization efforts, gold has served as a monetary anchor. Luigi Federico Signorini, Senior Deputy Governor of the Bank of Italy noted that even decades after Bretton Woods, gold continues to account for a significant share of official reserves, with central banks holding around 17% of all gold ever mined. This enduring presence reflects gold's resilience across inflationary periods, currency devaluations, and geopolitical shocks.

The European Central Bank's 2025 analysis further highlights gold's geopolitical relevance. In 2024, gold prices rose to their highest inflation-adjusted levels since the 1979 oil crisis, and central banks increased their gold reserves to amounts similar to those held during the Bretton Woods period. This resurgence is attributed to rising global tensions, sanctions, and the need for assets that transcend political risk.

Academic literature supports these institutional findings. Scholars argue that gold's lack of counterparty risk makes it uniquely suited for reserve portfolios, especially in emerging markets and politically unstable regions. Its liquidity, though not instantaneous like fiat, is robust in global markets, and its value preservation over centuries makes it a hedge against fiat erosion.

Together, these sources confirm that gold is not merely a legacy asset but a strategic instrument in modern reserve management. Its appeal spans economic ideologies, from Western central banks to Islamic finance systems, where gold's tangible and ethical nature aligns with Sharia principles.

**How Much Gold Do Central Banks Hold?**

Over the past three years, central banks around the world have collectively acquired more than 1,000 metric tons of gold annually, more than double the average seen during the previous decade. This surge reflects a growing consensus among monetary authorities that gold remains a vital anchor in times of uncertainty. The leading holders in 2025 include the United States, Germany, Italy, France, and Russia, each maintaining significant reserves

# From Crisis to Confidence: The Strategic Logic of Gold Reserves

Gold has long stood as a symbol of wealth, power, and permanence. In central banking, it transcends symbolism to become a strategic asset, quietly anchoring national financial systems through crises, transitions, and global shifts. In an era defined by digital currencies, geopolitical fragmentation, and volatile markets, central banks face mounting pressure to safeguard national reserves with assets that offer stability, credibility, and universal value. Gold, despite yielding no interest and lacking modern technological appeal, continues to occupy a central place in reserve portfolios across the globe. According to the World Gold Council, central banks have consistently been net purchasers of gold for over a decade, with record-breaking acquisitions in recent years, a trend that signals a deliberate shift toward assets that are highly liquid during crises, free from counterparty risk, and resilient across economic cycles.

This article explores the multifaceted role of gold in central bank reserve management, examining how it enhances liquidity by enabling rapid mobilization during financial stress, provides safety as a hedge against inflation, currency depreciation, and systemic risk, and preserves long-term value by maintaining purchasing power across generations. The article



# پر دولتونو د بودجې د کسر اغیزې



1. له ملي او نړېوالو بنسټونو څخه د پور په اخیستلو کې زیاتوالی
2. د عامه خدمتونو کموالی په ځانګړې توګه د ښوونې او روزنې او روغتیا په برخه کې
3. پر دولتونو د خلکو او سوداګرو د باور کموالی
4. پر خلکو د مالیاتو او فشار زیاتوالی
5. پر بازار د اغیزناک کنټرول نشتون
6. اقتصادي بحرانونه



بانک The Bank
September 2025
شماره ۲۱۹ - ربیع الثانی - میزان ۱۴۰۴

**دیجیتل سازی، یکی از گام‌های اساسی در راستای تأمین شفافیت مالی و اعتماد عمومی است. د افغانستان بانک متعهد است تا از طریق سیستم‌های دیجیتلی، نظارت، دقت و اطمینان در خدمات مالی را افزایش دهد.**

